**د افغانستان په اړه د جینوا په کنفرانس کې د مدني ټولنې نظریات**

لنډ رپوټ

د ۲۰۱۹ کال د جنوري میاشت

منځپانګه

منځپانګه


**سریزه** ....................................................................................................................................

**د تیاري چارې** ..........................................................................................................................

*له ولايتي مدني ټولنې سره مشورې* ...........................................................................................

*د افغانستان په اړه د جينوا په کنفرانس کې د ګډونکوونکي پلاوي د ټاکنې بهير* .................................................

د افغان مدني ټولني پلاوی ...................................................................................................

د نړیوالو غیر حکومتي سازمانونو پلاوی ......................................................................................

*د ملي مدني ټولنې کنفرانس* ........................................................................................

*د پالیسي اوملاتړ ښکیلتیا* ............................................................................................

*د مدني ټولنې د دريځ مقاله* ............................................................................................

*ترکیبي مقاله* ........................................................................................................

**د جینوا د کنفرانس اونۍ** .................................................................................................

*د افغان او نړيوالې مدني ټولنې ورکشاپ* ....................................................................................

د کاري ډلو او د پلاوي د غړو د بحثونو لنډيز ...............................................................................

د مدني ټولني بیان ......................................................................................................

*د کنفرانس په څنده کې د مدني ټولنې ناستې* ..................................................................... 11

*د پالیسي ښکیلتیا او ناستې* ........................................................ **Error! Bookmark not defined.**

د افغانستان په اړه د جينوا د کنفرانس د پايلو لنډيز .............................. **Error! Bookmark not defined.**

تولیزې پایلې .......................................................................... **Error! Bookmark not defined.**

د مدني ټولني اړوندې ژمنې ........................................................ **Error! Bookmark not defined.**

رسنيزې اړيکې ........................................................................ **Error! Bookmark not defined.**

**وروستي ګامونه** .................................................................... **Error! Bookmark not defined.**

*د افغانستان په اړه د جینوا د کنفرانس په اړه د مدني ټولنې بيان* ................ **Error! Bookmark not defined.**

د تعقيب لپاره پلانونه .............................................................. **Error! Bookmark not defined.**

ضمیمې ................................................................................ **Error! Bookmark not defined.**

**۱ ضمیمه- د مدني ټولنې د کاري کمیټې غړي** ....................................... **Error! Bookmark not defined.**

**۲ ضمیمه - د ولایتي مدني ټولنې د مشورو رپوټ** ................................. **Error! Bookmark not defined.**

۳ ضمیمه- د مدني ټولنې د دريځ مقاله ............................................................... 32

۴ ضمیمه- د مدني ټولنې ترکيبي مقاله .............................................. **Error! Bookmark not defined.**

۵ ضمیمه- د افغانستان په اړه د جینوا د کنفرانس لپاره د مدني ټولنې بیان ....................................... 56

۶ ضمیمه- د کنفرانس په څنډه کې د مدني ټولنې د ناستو يادښتونه او وړاندیزونه ........... **Error! Bookmark not defined.**

۷ ضمیمه- د افغانستان مدني ټولنه د جینوا د کنفرانس په اړه د ۲۰۱۸ کال د ډسيمبر مياشت ............................ 61

**لنډیزونه**

| | |
|---|---|
| BAAG | د بریتانیې او آیرلند سازمانونو د افغانستان ګروپ |
| BCA | د افغانستان په اړه د براسلز (بروکسل) کنفرانس |
| BMZ | د اقتصادي همکارئ او پراختیا لپاره فیډرال وزارت |
| CSWC | د مدني ټولني کاري کمیټه |
| CSO | د مدني ټولني سازمانونه |
| FGD | ګروپي متمرکز بحثونه |
| GCA | د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس |
| GMAF | د جینوا د متقابلې حساب ورکوني چوکاټ |
| GoA | د افغانستان حکومت |
| IDP | داخلي بېځایه شوی وګړی |
| INGO | نړیوال غیرې حکومتي سازمانونه |
| JCMB | د ګډې همغږئ د څار پلاوی |
| LCA | د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس |
| NGO | غیر حکومتي سازمانونه |
| PFO | د ولایتي تسهیل سازمانونه |
| SDG | تلپاتې پراختیایي موخې |
| SMAF | د متقابلې حساب ورکوني د چوکاټ له لارې پر ځان بسیاینه |
| TOR | د رپوټ شرایط |
| UNAMA | افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوی |
| USAID | د امریکا د متحدو ایالتونو نړیواله پراختیایي اداره |

**مننليک**

د افغانستان په اړه د جينوا د کنفرانس په بهير کې د مدني ټولنې نظريات د ګنو شريکانو او ونډه والو د همکارۍ پايله وه. په دې توګه د بريتانيې او آيرلند سازمانونو د افغانستان ګروپ (BAAG) په کابل او د ولايتونو په کچه د مشورې په بيلا بيلو پړاوونو کې د مدني ټولنې د کارې ډلې (CSWC) د غړو له نه ستړې کيدونکو هڅو د زړه له کومې مننه کوي. همدا رنګه د افغان مدني ټولنې د لس کسيز پلاوې په ټاکنه کې د خپلواکې مرکچي کميټې له همکارۍ څخه هم مننډوی يو.

په خپل وار د افغانستان په اړه د جينوا د کنفرانس د اونۍ په ترڅ کې په بيلابيلو غونډو کې د افغان مدني ټولنې او نړيوالې مدني ټولنې د پلاوو له ګډون او د مدني ټولنې د غړ. د اوچتولو له امله هم د مننې مراتب وړاندې کوو. سربيره پر دې، د افغان او نړيوالې مدني ټولنې د ورکشاپ له تسهيل کوونکو، تنظميوونکو، ويناوالو، وړاندې کوونکو او ګډونوالو څخه هم مننه کوو.

همدا راز د خپلو تمويلوونکو هر يو: د نړيوالې پراختيا د څانګې (DFID)، د نړيوالې همکارۍ لپاره د جرمني ادارې (GiZ)، د سويډن د نړيوالې پراختيا د همکارې ادارې (SIDA)، د سويس د پراختيا او همکارۍ د ادارې (SDC) او د بهرنۍ پراختيا لپاره د کاتوليک ادارې (CAFOD) له سخاوتمندانه مرستو څخه هم د زړه له کومې مننه کوو.

په پای کې، د ولايتي مدني ټولنې د ګروپي متمرکزو بحثونو (فوکس ګروپونو)، او په کابل کې د ملي مدني ټولنې د کنفرانس د سل ګونو ګډونوالو او حاضرينو څخه هم مننه کوو. د دوی له خپلې خوښې هڅو پرته د افغانستان په اړه د جينوا کنفرانس بهير به د مدني ټولنې له نظرياتو او ويناوو څخه برخمن نه و.

**سریزه**

د دې رپوټ موخه د هغو مهمو اسنادو، ویناوو او پیغامونو شریکول دي چې د ۲۰۱۸ کال د نوامبر په ۲۷ او ۲۸ نیټه د افغانستان په اړه د جینوا په کنفرانس کې د پراخې مدني ټولنې په استازیتوب د افغان مدني ټولنې د لس کسیز پلاوي له لوري وړاندې شوي وو. دغه رپوټ د مدني ټولنې هغه فعالیتونه وړاندې کوي چې د مدني ټولنې د کاري کمیټې(CSWC) له خوا تر سره شوي او د جینوا د کنفرانس د پیل، بهیر او له کنفرانس وروسته د تسهیل چارې یې د (BAAG) پر غاړه وې. په دې کې د جینوا د کنفرانس لپاره د دریځ برابرې شوې مقالې، د مشورې بهیر چې د مدني ټولنې د دریځ مقاله یې د معلوماتو له اړخه بډایه کړې ده، هغه ویناوې چې د جینوا د کنفرانس په لړ کې وړاندې شوې دي او هغه بحثونه چې د جینوا د کنفرانس  په رسمي اجنډا او یا د هغې تر څنګ تر سره شوي وو، شامل دي. د دې تر څنګ دغه رپوټ د جینوا د کنفرانس او د کنفرانس اړوند تعقیبي پلانونو په اړه د مدني ټولنې نظرونه منعکسوي.

**د تیارې چارې**

*له ولایتي مدني ټولنې سره مشورې*

د مدني ټولنې کاري کمیټه، د افغان مدني ټولنې د مهمو سازمانونو د شبکو ګروپ چې د افغانستان په اړه د براسلز په کنفرانس(۲۰۱۶)[1] کې د مدني ټولنې د نظریاتو لاربښوونه یې پر غاړه وه، د جینوا  په کنفرانس کې د نظریاتو لاربښوونه یې هم کوله، د هیواد د ۳۴ ولایتونو په کچه د یو ولایتي مشورتي بهیر پر جوړیدو یې هوکړه وکړه څو دا تضمین کړي چې د مدني ټولنې پیغامونه د هیواد په کچه د ټولو ولایتونو څخه د شواهدو پر بنسټ دي.
دې مشورو د ورځني ورکشاپ بڼه غوره کړه چې له دوه رأیه اخیستنې او درې متمرکزو ګروپي بحثونو(FGD) څخه جوړ و چې په پایله کې کیفي او کمي معلومات تر لاسه شول څو وروسته له شننې د معلوماتو له اړخه د کابل د ملي مدني ټولنو د کنفرانس د بحثونو د بډاینې لپاره وکارول شي او د جینوا د کنفرانس لپاره د مدني ټولنې د دریځ مقالې لاربښوونه هم وکړي. په دې توګه، د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر د میاشتې د ۱۵ او ۲۹ تر مینځ د ولایتي تسهیل اوه سازمانونو(PFO) په ټولو ۳۴ ولایتونو کې(FGD) طرح  او تر سره کړل، د مدني ټولنې د  ۹۱۷  فعالینو(۵۷۷ نارینه او۳۴۰ میرمنې) نظریې او ویناوې تر لاسه شوې. د دې ورکشاپونو برخه والو د کابل په ملي کنفرانس کې د ګډون په موخه د مدني ټولنې دوه ولایتي استازي هم وټاکل.

په ټولیزه توګه، د بحثونو پایلو په ډاګه کړه چې سره له دې چې افغانستان له ناامنۍ، بیوزلۍ او بنسټیزو خدمتونو د نه شتون په څیر ناخوالو سره مخ دی، خو یو د سوکالۍ  په لټه کې هیواد دی. د هیواد په کچه نا امني د مدني ټولنې د سازمانونو(CSO) د کار د تر ټولو ستر اغیزمنوونکي فکتور په توګه وګڼل شو، د مالي سرچینو نه شتون د دوهم  اغیزمنوونکي فکتور په توګه ښودل شوی، چې دا په ځینو ولایتونو کې بیا لومړی ځای لري. په هره سیمه کې لږ تر لږه له ۱ نه تر ۲ ولایتونو د مدني ټولنې د ارزښت په اړه د پوهاوي ټیټه کچه یې پر خپل کار د یو منفي اغیزمنوونکي فکتور په توګه یاده کړه، چې په بغلان او تخار کې دا له نا امنۍ سره په مساوي ډول وګڼل شوه. له بل پلوه، له جګړې څخه د خلکو په ساتنه کې د مدني ټولنې د فعالینو له ونډې او بشري حقونو د ملاتړ ګڼې بیلګې هم وړاندې شوې.

 په سیمه ایزه، ولایتي او ملي کچه فساد او نا امني د هغو مهمو ستونزو په توګه یادې شوې چې د پراختیایي او بشري پروګرامونو د اغیزمنتیا د را کمولو له لارې د افغانستان د سوکالۍ مخه ډب کوي. پوهنه ( د لوړو زده کړو په ګډون) او روغتیایي خدمتونه هم نیمګړي دي او چیرې چې موجود دي کیفیت یې ټیټ او زیاتره کسان ورته لاسرسی نه لري. د جنسیتي نابرابرۍ او محدودیتونو، د وړتیا لرونکو کارکوونکو د نه شتون او کمزورو زیربناوو په ګډون د بیلابیلو دلایلو له کبله لاسرسي محدوده شوې ده. په یو شمیر سیمو کې د داخلي بیځایه شوو وګړو(IDPs) یوه ستره کچه موجوده ده چې د دندې لپاره لږ او یا هیڅ مرسته یا فرصتونه نه لري او په دې توګه د بیوزلۍ په لومه کې ګیر دي.

په مشورتي بهیر کې ګډونوال په دې باور وو چې د خلکو د ژوندانه وضعیت د پانګونې، اصلاحاتو او ملاتړ له لارې ښه کیدای شي. پر زیربناوو، کرهنې او  د دندو پر پروګرامونو پانګونه به ځایي معیشتونه او اقتصاد پیاوړی کړي. د پوهنې او روغتیایي پاملرنو په برخه کې اصلاحات کیدای شي حکومت او نړیوالو بسپنه ورکوونکو ته د مدني ټولنې له خوا د مدافعې له لارې وهڅول شي څو د زیاتې اغیزمنتیا لپاره د مدني ټولنې د فعالینو تر مینځ لا زیاتې همغږۍ ته اړتیا ده.

 له فساد سره د مبارزې د میکانیزمونو د بیا کتنې لپاره له ټولو ولایتونو څخه د سیمه ایزې، ولایتي او ملي ادارو په پټه پیاوړې وړاندیزونه را رسیدلي دي. ګډونوالو مدافعه یې په عامه پروګرامونو کې د ټولنې د نظر څرګندولو، معلوماتو ته د لاسرسي او آزادو ویناوو د هڅونې یوه وسیله وګڼله، په دې توګه به ښايي دوی و کولی شي چې خپل حکومت او د مدني ټولنې فعالین حساب ورکوونکي وساتي.

له ننګونو سره سره، په ځینو برخو کې برخه والو د بریالیتوب احساس کولو. په ځانګړې ډول د برخه والو یو د پام وړ شمیرې په خپلو ټولنو کې زده کړې ته د نجونو او ځوانو میرمنو د لاسرسي د تضمین، د خپلو کورنیو، د ټولنو د مشرانو او په یوه قضیه

[1] د مدني ټولنې د کاري کمیټې د غړو نوملړ په ۱ ضمیمه کې د لاسرسی وړ دی.

کې، د طالبانو سره د شخړو د مینځګړیتوب برخه کې کار کړی دی. د مدني ټولني سازمانونو (CSOs) د بېړنیو بشري مرستو په غبرګون کې د داخلي بېځایه شوو وګړو او کوربه ټولنو تر مېنځ د شخړو د حل، او د باور رامینځ ته کولو په موخه د حکومت او سیمه ایزو چاروکو له وندې سره د خلکو د آشنایی په برخه کې مهم رول لوبولی دی.

د هر ورکشاپ په وروستی برخه کې ټولو ګډونوالو د مدني ټولنې له خوا د برابر شوي لارښود پر بنسټ په ملي کنفرانس کې د ګډون لپاره د دوه استازو د نوملو( یو نارینه او یوه میرمن) په بهیر کې برخه اخیسته. ټولو برخه والو و کولای شول چې یا په خپله ځان او یا کوم بل کس دې دندې ته ونوموي او خپلې رأیې یو پټ صندوق ته واچوي. چې بیا وروسته به رأیې د تسهیل کوونکي له خوا شمیرل کیدې او پایلې به یې ګروپ ته وړاندې کیدې. په ځینو فوکس ګروپونو کې نوماندانو ته به درې دقیقې وخت ورکول کیدو څو ګروپ ته خبرې وکړي او د ټاکنې لپاره خپلې وړتیاوې په ډاګه کړي. په پایله کې، ۶۸ استازي په ملي کنفرانس کې د ګډون په موخه تأیید او د خپلو همکارانو او اړوندو ټولنو نظریات او وېناوې یې خلکو ته وړاندې کړې.

د ولایتي مشورې بشپړ رپوټ په ۲ ضمیمه کې د لاسرسی وړ دی.

*د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس د پلاوي د ټاکنې بهیر*

<u>د افغان مدني ټولنې پلاوی</u>

د مدني ټولنې په پلاوي کې د تنوع او د موضوع په اړه د پوهې کچې د جینوا په کنفرانس کې د بسینه ورکوونکو او نورو برخوالو له هرکلي سره مخامخ شوې. د لس کسیز پلاوي په ترکیب کې د مدني ټولنې د مشرتابه د کچې پنځه نارینه او پنځه ښځینه غړي چې د پنځه تنو عمرونه یې له دیرش کلنو ټیټ وو، شامل وو. نوموړی ترکیب له ولایتونو څخه د دوه استازو او د هیواد په کچه د معلولینو د برخې د یوه استازي په درلودلو سره له تخنیکي اړخه انډول و. د پلاوي پنځه غړو د افغانستان په اړه په هیڅ یو نړیوال کنفرانس کې ګډون نه درلود.
د مدني ټولنې د پلاوي ټاکنېز بهیر د پلان جوړونې او مشورو بهیر پوره درې میاشتې وخت یې ونیو او په پایله کې لس کسیز بریالی پلاوی وټاکل شو. د اګست د میاشتې په اوږدو کې(BAAG) او(CSWC) د تېرو کنفرانسونو د ټاکنې د بهیر پر ګټو او زیانونو بیا کتنه وکړه. په دې هوکړه وشوه چې د پلاوي د ټاکنې بهیر به یوه خورا رڼه او عادلانه کړنلاره وي. تیرو تجربو ښودلې ده چې یو ټاکنیز نظام د درغلی وړتیا لرې ځکه چې رأیه ورکونه اکثراً د شهرت پر بنسټ وي نه د وړتیا له مخې، او هغه کسان زیانمنوي چې رأیه ورکوونکي ورسره پوره آشنایي نه لري. له هغه ځایه چې دغه پلاوی د سایز له نظره کوچنی و، نو دا ممکنه وه چې یواځې پلازمینه کابل کې تر سره شوي یو ټاکنیز بهیر به په ځانګړې توګه ولایتي مدني ټولنه زیانمنه کړې وه. د ګټو د تقابل څخه د مخنیوي په موخه، هوکړه وشوه چې د ټاکنیز بهیر مدیریت دې یوه ټاکنیزه کمیټه او یوه بیله مرکچې کمیټه چې د مدني ټولنې له هغو سازمانونو څخه جوړه وې چې هیڅ یو نوماند یې د پلاوي لپاره نه وي وړاندې کړی، په غاړه واخلې.
د ۲۰۱۸ کال د سپتمبر په دریمه نیټه د پلاوي د نوماندی بهیر پیل شو؛ نوماندانو کولای شول چې د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر تر ۱۸ نیټې پورې خپل غوښتنلیکونه وسپاري. دپلاوي لپاره د ۱۰۱ نوماندانو (۶۷ نارینه او ۳۴ میرمنې) غوښتنلیکونه تر لاسه شول؛ چې له دې ډلې نه ۲۸ یې له ولایتونو او نور یې له کابل څخه وو. له ټولو نه یواځې ۶۸ کسانو په ټاکنو کې د ګډون معیارونه چې په TOR کې خلاصه شوي وو پوره کړل(۵۱ نارینه، ۱۷ میرمنې، چې له دې نه ۱۹ یې له ولایتونو او نور یې له کابل څخه وو).

ټاکنیز بهیر درې پړاوونه درلودل، غورچاڼ(د سپټمبر له ۲۱-۲۲ نیټې)، د مرکو تر سره کول او د مرکچې کمیټې ارزونې او مشورې(د سپټمبر له ۲۳- ۲۵ نیټې).

په لومړي پړاو کې لومړني غورچاڼ هغه غوښتنلیکونه لیرې کړل چې په واضح ډول یې ټاکلي معیارونه نه پوره کول(د حکومت، وسله والو پوځونو او د نړیوالو سازمانونو کارکوونکي/ غړي، یا د پارلمان لپاره نوماندان وو)، یا نیمګړې غوښتنلیکونه یې وړاندې کړي وو، او یا تر ټولو ټیټ معیارونه یې هم نه وو پوره کړي. بیا وروسته نوماندانو ته د هغو وړتیاوو پر بنسټ چې په سي وي ګانو او غوښتنلیکونو کې یې یادونه شوې وه نمرې ورکړل شوې. له ولایتونو څخه پیاوړو نوماندانو او په ملي کچه د مدني ټولنې پیژندل شوو مشرانو ته لومړیتوب ورکړل شو. هر یو نوماند ته د دوه کسانو له خوا په آزاد ډول نمرې ورکړل شوې. په پایله کې، د ۳۲ کسانو(۱۳ میرمنې او ۱۹ نارینه) لومړنی نوملړ جوړ شو.

په دوهم پړاو کې، یوه مرکچې کمیټه جوړه شوه چې د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر له ۲۴-۲۵ ټول ۳۲ کسان وارزوي. د دې دوه ورځنې بهیر څارنه د یوې څارونکې کمیټې له خوا وشوه چې د (UNAMA)، کونټر پارټ نړیوال سازمان(CPI)، او(BAAG) څخه جوړه وه. له ۳۲ کسانو څخه ۲۹ تنه یې په کابل کې او یا د سکایپ له لارې مرکې ته حاضر شول. په نوموړي بهیر کې د روڼتیا د تضمین په موخه څارونکو د هرې مرکې (غږیز او بصري) اسناد یې ثبت کړل. د مرکچې کمیټې غړې دا وو:

۱. رحیم عطایي، د اړیکو له څانګې
۲. علي لطیفي، یو نړیوال خبریال

۳. میرویس وردک، د سولې او څېړنیزو روزنو له سازمان
۴. ناصر تیموري، د افغانستان د روڼتیا د څار له سازمان
۵. نګینه یاري، د صبا افغانانو له سازمان

او یوه څارونکې کمیټه چې غړي یې دا وو:

۱. جاوید حنیفي او مقام الدین سراج(UNAMA)
۲. رفیع پوپل( کونټر پارټ نړیوال سازمان)
۳. جاوید نادر او محمد سلیمان(BAAG)

ټول کاندیدان په موضوع پورې اړونده وړتیا، سازماني پوهه او شخصي تجربه یې له ځانه سره راوړې وه. وروستي پړاو کې د مرکچې کمیټې له خوا د هر یوه نوماند د مرکې د بیا کتنې او د وړتیا له مخې د نمرو په لیست کې د هغوي درجه بندي وه. د نمرو او معیارونو پر بنسټ لس نوماندان د پلاوي لپاره وټاکل شول. د دې لپاره چې که د لومړنیو نوماندانو له ډلې نه کوم یو و نه شي کولی چې د جینوا په کنفرانس کې ګډون وکړي شپږ احتیاطي نوماندان هم وټاکل شول.

د افغان مدني ټولنې لس کسیز پلاوي ترکیب دا و:
۱. فروزان مشعل، د عامه پوهاوي سازمان
۲. فروزان رسولي، د سولې او ډیموکراسی لپاره د برابرۍ سازمان
۳. تمنا عاصي، علمي قضایي سازمان
۴. فرشته کریمي، د قانون غوښتوونکی سازمان
۵. ثریا پاکزاد، د ښځې د غږ سازمان
۶. نعیم ایوب زاده، د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ
۷. ذاکر ستانکزی، د افغانستان د مدني ټولنې انستیتیوت
۸. محمد راز دلیلي، د سنایي پراختیایي سازمان
۹. محمد شفق، د معلولینو ټولنیز مرکز
۱۰. سمیع الله حمیدي، د هلمند ولایت د بُست د مدني ټولنې سازمان
۱۱. حمیرا رسولي، میدیکا افغانستان( احتیاطي نوملړ)
۱۲. زهرا میرزایي، د قلم کلتوري او ټولنیز بنسټ( احتیاطي نوملړ)
۱۳. روشن مشعل، د افغان میرمنو شبکه( احتیاطي نوملړ)
۱۴. ایوب شهریار، د افغانستان د مدني ټولنې د مجتمع سازمان( احتیاطي نوملړ)
۱۵. احمد تمیم صبري، د افغانانو لپاره د بشري او پراختیایي مرستو د همغږۍ اداره( احتیاطي نوملړ)
۱۶. عبدالله احمدي، د افغانستان د ډیموکراسی او پراختیا سازمان( احتیاطي نوملړ)

<u>د نړیوالو غیر حکومتي سازمانونو پلاوی</u>

د جینوا په کنفرانس کې د نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو د ګډون او د یادو سازمانونو د همغږۍ څخه د ملاتړ په موخه، (BAAG ) د (INGO ) د استازو لپاره د پلاوي پنځه نور نښانونه خوندي کړل. د نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو د ټاکنې بهیر د اکتوبر د میاشتې پر ۱۲ نیټه اعلان شو او ۱۳ غوښتنلیکونه تر لاسه شول. د دې سازمانونو ټولو غوښتوونکو په افغانستان کې له ۱۰ کلونو څخه زیاته د کار تجربه درلودله او د دې سازمانونو له خوا ۴۰ سلنه نوماندان افغان کارکوونکي وو. یوې مشورتي کمیټې چې د دوه نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو له استازو څخه جوړه وه د د دې سازمانونو ۵ تنه استازي او ۵ تنه احتیاطي کسان یې د لاندې معیارونو پر بنسټ وټاکل او لومړنی نوملړ یې اعلان کړ:۱) په افغانستان کې د نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو، د مدني ټولنې او اصلي پراختیایي موضوعګانو تجربه او پوهه ، او ۲) د نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو د نوماندانو وړتیا او د مدني ټولنې د ملاتړ تجربه.

د INGO ګانو په ۵ کسیز بریالي پلاوي کې دغه کسان شامل وو:
۱. چارلس ریچارډ ډیوي، افغان اید
۲. جاوید نادر، د بریتانیې او آیرلند سازمانونو د افغانستان ګروپ
۳. میکائیل پسچیتو، ایمرجینسي( رافائیل بایوچي یې ځای ناستی شوه)
۴. مریم عطایي، د افغانستان د ماشومانو د ملاتړ دفتر
۳. رامین نورزی، کونټر پارټ نړیوال سازمان( لئن کارور یې ځای ناستی شو)

**د مدني ټولنې ملي کنفرانس**

د نوامبر د میاشتې په ۱۱ او ۱۴ د مدني ټولنې ملي کنفرانس د کابل په سرینا هوټل کې جوړ شو. دغه ملي کنفرانس د ولایتي مشورو د موندنو د یو ځای کولو، د مدني ټولنې د دریځ د مقالې لپاره د ملي کچې سپارښتنو د وړاندې کولو او بحث لپاره یو ښه

فرصت و. همدا راز برخه وال په دې هم وتوانيدل چې له يو بل او د افغان حکومت په ګډون له نورو ونډه والو سره په مستقيم ډول اړيکې ټينګې کړي.

د کنفرانس لومړۍ ورځ د مدني ټولنې له خوا (د جينوا د کنفرانس پر ټاکنيز بهير او موخو يوه لنډه کتنه) او د ښاغلي ساجد تقوا، د ماليې وزارت د څارنې، شننې او رپوټ ورکونې د عمومې رئيس له خوا وينا وشوه. د ماسپښين غونډه کې د ولايتي مشورو موندنې شاملې وې او د کاري ګروپونو غونډه کې دا لاندې موضوعات تر پوښښ لاندې راغلل: (۱) سوله، امنيت او د ملکيانو او د جګړې د قربانيانو ملاتړ، (۲) د خدمتونو د ليږد او د مرستو اغيزمنتيا، (۳) فساد سره مبارزه، (۴) ټاکنې، (۵) د مدني ټولنې پراختيا او پياوړې کول، (۶) ټولنيز ملاتړ او (۷) د ميرمنو ګډون.

له بده مرغه، د لاريونونو له امله سرينا هوټل ته د غځيدلې لارې د بنديدو په پايله کې د کنفرانس دوهمه ورځ د نوامبر ۱۴ نيټې ته وځنډول شوه. د ولايتي پلاوي يو اکثريت له هغې مخکې ولاړل خو نظرونه يې د کنفرانس په لومړۍ ورځ له وړاندې راغونډ شوي وو. په ملي کنفرانس کې په ټوله کې د مدني ټولنې ۱۰۱ فعالانو برخه اخيستې وه. چې په دې کې ۶۸ د مدني ټولنې ولايتي فعالان، د جينوا د کنفرانس لپاره لس کسيز پلاوی او ۶ کسيز احتياطي پلاوی په کې شامل وو.

د دې غونډې پايله د کنفرانس يو رسمي پريکړه ليک و، چې د مدني ټولنې د کاري کميټې له خوا پرې هوکړه شوې وه، چې سوله او امنيت؛ د تاوتريخوالي د قربانيانو ملاتړ او د ملکيانو ساتنه؛ ټاکنې؛ ټولنيز ملاتړ( د معلوليت لروونکو وګړو او داخلي بيځايه شوو وګړو)؛ د ښځو ګډون؛ د مدني ټولنې ونډې ښه کول؛ له فساد سره مبارزه؛ او د خدمتونو وړاندې کول او د مرستو اغيزمنتوب په کې تر پوښښ لاندې راوستل شول.

په دې پريکړه ليک کې، سوله او ثبات له امنيت، اقتصاد، او ټولنيزو سکټورونو کې له يو شمير اړينو اصلاحاتو سره تړل شوي وو. همدا راز ويل شوي و چې په هيواد کې د اوږد مهاله سولې د تضمين په موخه، په افغانستان کې د تاوتريخوالي د بنسټيزو لاملونو په نښه کول او د سيمه ايزو او نړيوالو فعالينو تر مينځ د يوې اجماع رامينځته کول خورا مهم دي. يو مهم ټکی چې په دې پريکړه ليک کې و د جګړې پر ښکيلو اړخونو غږ و څو ملکيانو ته له زيان رسولو ډډه وکړي. همدا راز دا هم ويل شوي وو چې د افغان مدني ټولنې فعالين په دې باور که چيرې حکومت د الکترونيکي پيژندپاڼو پروګرام پراخ کړي؛ په انتخاباتي قانون کې اصلاحات راولي؛ د نه ليږديدونکې رأيې سيسټم پر يو ګډ ټاکنيز سيسټم بدل کړي؛ د ټاکنيزو حوزو سايز کم کړي، او په ټاکنيز بهير کې د مشخصو زور واکو سياسي لاسوهنې بندې کړي، پرټاکنيز بهير به د خلکو باور ښه شي.

### د پاليسۍ او ملاتړ ښکيلتيا

مدني ټولنه له افغان حکومت او نړيوالې ټولنې سره د ځانګړو غونډو او نورو ټولنو لکه د مدني ټولنې د ملاتړ ګروپ د غونډې او د مدني ټولنې د ملي کنفرانس له لارې د پاليسۍ په موضوعاتو کې ښکيله وه. ځانګړې غونډې د نوامبر په ۱۲ نيټه د نړيوالو بسپنه ورکوونکو سره او د نوامبر د مياشتې په ۱۷ نيټه له اقتصاد وزارت سره و شوې. د ماليې له وزارت سره په غونډه کې د (GMAF) وروستی تکرار د مدني ټولنې د کاري کميټې له غړو سره شريک شو چې خپل لومړني نظريات يې په شفاعي بڼه، او د مدني ټولنې د نورو فعالينو د نظرونو له وړاندې کولو وروسته بيا په ليکلې بڼه دې غونډې ته وړاندې کړل.

د امنيتي محدوديتونو له کبله بسپنه ورکوونکې سازمانونه په دې ونه توانيدل چې په ملي کنفرانس کې ګډون و کړي، له هغوی سره د نوامبر د ۱۲ نيټې غونډې د مدني ټولنې پلاوي ته يو ښه فرصت و څو د خپلو پلانونه، تيارۍ، او له ملي کنفرانس څخه د تر لاسه شوو پيغامونو په ګډون د جينوا کنفرانس لپاره مهم پيغامونه شريک او له بسپنه ورکوونکو سره پرې بحث کړي.

### د مدني ټولنې د دريځ مقاله

د مدني ټولنې د دريځ دغه مقاله د ولايتي مشورو د موندنو او په ملي کنفرانس کې د تر سره شوو بحثونو پر بنسټ برابره شوې ده. په لومړي سر کې، د ۳۴ ولايتي فوکس ګروپونو موندنې رالنډې او په ۸ سيمه ايزو رپوټونو کې توحيد شوې. دا لنډيز د دريځ مقالې له مشاور سره شريک شو، چې په ملي کنفرانس کې يې په دې موخه ګډون کړی و څو مهمې موضوعګانې او د مدني ټولنې د برخه والو له خوا وړاندې شوې مهم وړانديزونه درک کړي. د دې مقالې لومړۍ مسوده د نظرونو او تبصرو لپاره د مدني ټولنې کاري کميټې ته وړاندې شوه. نوموړې تبصرې بيا په دوهمه مسوده کې ځای پر ځای شوې، چې بيا وروسته د افغان مدني ټولنې د پلاوي له خوا يې بيا کتنه او پرې هوکړه وشوه. دا مقاله د جينوا د کنفرانس لپاره د مدني ټولنې د بيان د چمتو کول لپاره وکارول شوه.

د دريځ دا مقاله د لاندنيو مهمو موضوعګانو اړوند مهم پرمختګونه او ننګونې له وړانديزونو سره را لنډوي:

۱. سوله، امنيت، او د جګړې د ملکي قربانيانو ملاتړ
۲. د مرستو اغيزمنتوب او د خدمتونو وړاندې کول
۳. له فساد سره مبارزه
۴. د ښځو ګډون
۵. ټاکنې

۶. د معلولیت لرونکو او داخلي بېځایه شوو وګړو ټولنيز ملاتړ
۷. د مدني ټولني د ونډې پراخول او پیاوړي کول

د مدني ټولني د دريځ دې مقالي بشپړ متن په ۳ ضمیمه کې د لاسرسی وړ ده.

**ترکیبي مقاله**

دا ترکیبي مقاله د مدني ټولني ۲۲ د دريځ مقالي چې د جینوا کنفرانس لپاره چمتو شوې وې سره ترکیب کړي دي. په اوه برخو کې د مدني ټولني نظریات په کې را لنډ شوي دي: (۱) سوله او امنیت؛ (۲) د اتباعو حقونه او ساتنه؛ (۳) حکومتولي او فساد؛ (۴) اقتصاد؛ (۵) بېځایه کیدل او ادغام؛ (۶) په روغتیا، پوهنه، کرهنه او معیشت کې پراختیا؛ او (۷) د کار کولو یوه نوې بڼه: د بشري- پراختیا – سولې تر مینځ اړیکې.

هغو دوه اړخیزو ننګونو ته په کتو سره چې د افغانستان حکومت، نړیواله ټولنه او مدني ټولنه د افغانستان د پراختیا او د خلکو د سوکالۍ ګډو موخو ته د رسیدو لپاره ورسره مخ دي، د افغان او نړیوالي مدني ټولني له خوا لاندیني پراخي سپارښتني وړاندې شوي دي:

- افغان حکومت باید د افغانستان په پراختیا کې د مدني ټولني ملي او نړیوال ارزښت تأیید، او د مدني ټولني له سازمانونو (CSOs) سره د دوه اړخیز درناوي، همکارۍ او ملاتړ په روحیه ښکیل شي؛
- افغان حکومت باید له هغو نړیوالو تړونونو او معاهدو سره سم چې په کې ښکیل دی، هڅه وکړي څو تصویب شوي قوانین او پالیسۍ په بشپړه توګه پلي کړي؛
- بسپنه ورکوونکي باید افغانستان ته اوږد مهاله ملاتړ وړاندې کړي، چې دا به د حکومت اصلاحاتو او لنډ مهاله پایلو پورې اړوند وي؛ او
- ټول فعالین باید د بشري – پراختیا - سولې اړیکې درک کړي؛ د اړتیاوو پر بنسټ او د خلکو پر مرکزیت دې ټولنیز پروګرامونه وهڅوي، ترې ملاتړ دې وکړي او پلي دې کړي.

د ترکیبي مقالي بشپړ متن په ۴ ضمیمه کې د لاسرسی وړ دی.

**د جینوا د کنفرانس اونۍ**

*د افغان او نړیوالي مدني ټولني ورکشاپ*

د نوامبر په ۲۶ نیټه BAAG د جینوا په کرون هوټل کې د افغان او نړیوالي مدني ټولني(AICS) کوربه و. دې غونډه کې له نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو(NGOs)، کارپوهانو، نړیوالو بسپنه ورکوونکو او د افغانستان حکومت څخه له ۱۰۰ زیاتو برخه والو هرکلی وشو. د ورکشاپ د ورځې اجندا پر شپږو موضوعګانو ( حکومتولي، د سولې رامینځ ته کولو، مدني فضا، جنسيتي برابري او حقونو، د خدمتونو وړاندې کول او بشري غبرګونونو) په اړه ورکشاپونه درلودل چې وروسته به د پلاوي له خوا پر موضوع بحثونه کیدل. د 'یو امن او سوکاله افغانستان لپاره همکاري' په وروستۍ غونډه کې د وزیرانو د پلاوي د بحث موضوع وه.

دې غونډې درې موخې درلودلې: لومړی، د پوهې او تجربو د تبادلې او د افغانستان د پراختیا پر مهمو لومړیتوبونو د بحث په موخه د افغان او نړیوالي مدني ټولني د فعالینو یو ځای کول. دوهم، په جینوا کې د ملاتړ د مهمو غونډو او د رسنیو د ښکیلتیا د فرصتونو لپاره په اغیزمنه توګه تیاری. او دریم، د افغان او نړیوالي مدني ټولني، افغان حکومت او نړیوالو بسپنه ورکوونکو تر مینځ د اړیکو جوړول او د موجودو اړیکو پراختیا، او د نوامبر په ۲۸ نیټه د مدني ټولني له خوا د وروستي لنډ بیان وړاندې کول.

د ورځې لومړۍ برخې پلاوي ته دا فرصت ورکړ څو په یوه کاري ګروپ کې سره راغونډ شي او د یو ساعت لپاره پر اصلي موضوعاتو بحث وکړي. د هر کاري ګروپ اداره کوونکی د مدني ټولني یو استازی او یو تسهیل کوونکی و. د کاري ګروپونو تسهیل کوونکي دا وو: حمید حکیمي- چاتم هاوس، میرویس وردک – د سولې او څیړنیزو روزنو سازمان، روبي اجیني - آکسفام، لیوسیلي ګروسجن - د لوړې پر وړاندې عمل، اندریس ستیفنسن - د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه، او فیونا ګال – د افغانانو لپاره د بشري او پراختیایي مرستو د همغږۍ اداره.

د وروستۍ غونډې مديريت د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړي استازي د مرستيال مارک باوډن له خوا وشو، له ۲۰۱۸ کال وروسته د بو امن او سوکاله افغانستان په جوړولو کې د مشارکت ونډه يي و ارزوله. د وزيرانو په پلاوي کې د افغانستان په استازيتوب د اقتصاد وزير ډاکټر مصطفی مستور، په نړيوال بانک کې د افغانستان د برخې مسؤوله ميرمن شبنم چودري، د افغان مدني ټولني په استازولي ميرمن ثريا پاکزاد او د کونترپارټ د نړيوال سازمان په استازيتوب ښاغلی ائن کارور شامل وو.

<u>د کاري ګروپ او د پلاوي د بحثونو لنډيز</u>

د ورځې په اوږدو کې بحثونو او خبرو له لارې د خدمتونو په وړاندې کولو کې د حکومت له خوا د پاتې تشو په ډکولو کې او د حکومت په حساب ورکونه( مدافعه) کې د افغان مدني ټولنې بيساري ونډه وستايل شوه. د اقتصاد وزير ومنله او دا يي په ډاګه کړه چې مدني ټولني د بشري حقونو په وده، د بنسسټيزو خدمتونو په وړاندې کولو، د حکومت له کړنو د څارنې او د اتباعو د پراخ ګډون د هڅولو په برخه کې مهمه ونډه درلوده. د مدني ټولنې د فعاليتونو د اوسني او راتلونکې مالي ثبات په هکله اندیښني را ولاړې شوې او د پلاوي يوه غړي د مدني ټولنې سازمانونو ته مشوره ورکړه چې له ځانه وپوښتئ چې ' تمويل به تر کومه دوام ولري؟'

د افغانستان د ټاکنيز بهير په هکله ليدلورو سره توپير درلود، زياترو حاضرينو پوښتنه کوله چې په ټاکنو کې د خلکو د ټيټې کچې ګډون او د لوړې کچې تاوتريخوالي او فساد له کبله آيا افغانستان ته لازمه وه چې خپل ټاکنيز بهير کې اصلاحات راولي. هغه کسان چې د اوسني نظام د دوام پلوي دي د مدني ټولنې پر سازمانونو يې غږ وکړ چې د ټاکنيزو بنسټونو د سياسي کولو ننګونو کې دې له خلکو ملاتړ وکړي. په بسپنه ورکوونکو هم غږ شوی دی چې د هغو وتلو څېرو پر ضد چې مفسد ګڼل شوي دي په آزاده توګه آواز اوچت کړي او له تمويل څخه يې لاس واخلي. همدا راز وړانديز شوی چې د بهرنيو څارونکو شتون او د ټاکنيز نظام او ميکانيزمونو اصلاح به د خلکو د باور کچه لوړه کړي.

په دې هکله چې مدني ټولنه کولای شي له لاندې لارو د سولې په وده کې يو مهم رول ولوبوي يوه ټوليزه اجماع موجوده وه: ۱)- ملاتړ- د 'وتلو څېرو د معاملو' په اړه دې په آزاده توګه خبرې وشي او د رونتيا له هغې هوکړې دې ملاتړ وشي چې د خبرو په يوه مسير کې 'سرې کرښې' ټاکي. ۲) ملاتړ- د انتقالي عدالت او د قربانيانو پر مرکزيت سولې ته د يوې کړنلارې له ودې دې ملاتړ وشي، د سولې د بهير په زړه کې د زيانمنوونکو ګروپونو او قربانيانو اړتياوو ته ځای ورکول يواځې د مجرمينو له مجازاتو سره مخالفت دی. او ۳) د سولې د رامينځته کولو لپاره د سيمه ايزو هڅو د پيل او بيا پخلايني د پروګرامونو په موخه دې د مدني ټولنې د حقوق بنسټو سازمانونو له تخصص او مينځګړيتوب له وړتياوو څخه دې ګټه پورته شي.

د دې بحثونو په پايله کې د همکارۍ لپاره پر درې مهمو برخو هوکړه وشوه او په افغانستان کې له حکومتي ادارو سره د دې بحثونو پر دوام ټينګار وشو.

۱. له سيمه ايزې تر مرکزي کچې د حکومتي ادارو او مدني ټولنې تر مينځ: مدني ټولنه مالي او حقوقي ملاتړ ته اړتيا لري په داسې حال کې چې دولت د خدمتونو وړاندې کولو او د خلکو ملاتړ ته اړتيا لري چې د مدني ټولنې سازمانونه يې وړاندې کولای شي. د مدني ټولنې سازمانونو/ غيرې حکومتي سازمانونو ته بايد لازم قانوني چوکاټونه رامينځته شي څو هغوی له وزارتونو سره په ګډه د کار وړتيا پيدا او د خدمتونو د وړاندې کولو له بهير څخه څارنه وکړي.
۲. د مدني ټولنې د سازمانونو په مينځ کې: په ۲۰۱۸ کال کې د غيرې حکومتي سازمانو له کنفرانس وروسته چې د اقتصاد وزارت له خوا جوړ شوی و، د اقتصاد وزير پربرخه والو غږ وکړ چې د مدني ټولنې د سازمانونو، دولت او بسپنه ورکوونکو تر مينځ د باور د زياتولو په موخه دې يو کاري ګروپ جوړ شي، چې د هغه په آند له دې لارې کولای شي پر حکومتي بهيرونو لکه د غيرې حکومتي سازمانونو پرقانون، د ماشومانو پر قانون، معلوماتو ته د لاسرسي پرقانون، د لاريونونو پر قانون د مشورو پر بهير د مدني ټولنې اغيزه پياوړې کړي.
۳. درې اړخيزه همکاري: د مدني ټولنې د سازمانونو، دولت او نړيوالې ټولنې تر مينځ دوامدارې همکارۍ ته اړتيا ده. د ښکيلتيا او همغږۍ د اوسني ميکانيزمونو د بيا کتنې او په نبنه شوو تشو ته د رسيدګی له لارې د دې له رامينځ ته کيدو سره مرسته کيدای شي.

**د مدني ټولنې بيان**

د مدني ټولنې دا بيان، د پلاوي له خوا تأييد او د نوامبر د مياشتې په ۲۸ نيټه د افغانستان په اړه د جينوا د کنفرانس په مهمه غونډه کې د مدني ټولنې د دوو وياندانو نعيم ايوب زاده او فروزان مشعل له خوا وړاندې شو. دا وينا چې لس دقيقې وخت ورته ځانګړی شوی و، د مدني ټولنې د دريځ په مقاله کې د وړانديزونو او شننو پر بنسټ وه چې په کې سولې، ملکيانو د ساتنې، عدالت، د حکومتولۍ وده، ټاکنې، د خدمتونو وړاندې کول، د ښځو ګډون او د هيواد په پراختيا کې د مدني ټولنې ونډه شامله وه.

*" هغه سوله چې بیواځې د تاوتریخوالي د بندولو او د 'چټک سمون' په توګه تعریف شوي وي تلپاتې نه وي. د سولې یو داسې بهیر چې د جګړې په لوړه او ټیټه کچه کې د خلکو نظریات درک، شامل او په پام کې نیولي وي او باور یې رامینځ ته کړی وي، یوې تلپاتې سولې ته رسیدلی شي. مونږ له هغه د املې پر نړیوالو بسپنه ورکوونکو غږ کوو چې د ټولنیز او سیاسي ژوندانه په ټولو کچو کې دې د سولې جوړونه تمویل کړي."* د مدني ټولنې بیان.

د مدني ټولنې د بیان بشپړ متن په ۵ ضمیمه کې لوستلی شئ.

*د کنفرانس په څنډه کې د مدني ټولنې غونډه*

مدني ټولنې د نوامبر په ۲۷ نیټه د کنفرانس په لومړۍ ورځ غونډه وکړه. د غونډې موخه د مدني ټولنې، دولت او نړیوالې ټولنې د درک وده او د نظریاتو د ښې تبادلې لپاره د یو فرصت رامینځ ته کول وو. په برخه والو کې د افغان او نړیوالې مدني ټولنې استازي، د افغانستان د اقتصاد وزیر ډاکټر مصطفی مستور او د ټولو مهمو بسپنه ورکوونکو استازي شامل وو. د BAAG ستره سلاکاره الیزابت وینټر، د فرشته کریمي (DQG) او مریم عطایي( د ماشومانو د ملاتړ سازمان) له خوا په پرانیستوونکو ټکو سره، د د دې غونډې مشري کوله.

د ډاکټر مستور له څرګندونو وروسته، له برخه والو غوښتنه وشوه څو خپل نظرونه وړاندې کړي. د مدني ټولنې تر فشار لاندې فضا؛ د مدني ټولنې او دولت په مینځ کې د ښکیلتیا میکانیزمونه؛ له فساد سره د مبارزې اغیزمنې لارې؛ باوري معلوماتو ته د مدني ټولنې د ګروپونو لاسرسي؛ او حکومتي ادارو ته د غیري حکومتي سازمانونو د رپوټ ورکونې میکانیزمونه هغه موضوعات وو چې په غونډه کې پرې خبرې وشوې. د مدني ټولنې د پلاوي له خوا افغان حکومت ته ځینې وړاندیزونه هم وشول:

۱. افغان حکومت باید په ښکاره ډول د مدني ټولنې، د هغې له ارزښتونو او څارونکي ونډې ملاتړ وکړي، چې دا به د مدني ټولنې له واضح تعریف سره به تسهیل شي.
۲. د مدني ټولنې په اړه ناسم معلومات دې رد او تصحیح شي.
۳. له اړوندو قوانینو سره سم دې مدني ټولنې ته اړین معلومات وړاندې او د معلوماتو خپرولو ته دې وده ورکړل شي.
۴. له حکومت سره د همغږۍ هوکړه شوي میکانیزمونه دې په عمل کې پلي، څو دا تضمین شي چې د مدني ټولنې غږ په پام کې نیول شوی دی.
۵. له فساد سره د مبارزې لپاره دې یوه عملي تګلاره رامینځ ته شي چې په کې به ملکي کارکوونکو ته د بسیا معاشونو برابرول، له فساد سره د مبارزې له کمیسیون څخه د مدني ټولنې د استازو د حذفولو د فشار پر وړاندې مقاومت، او په هرهغه ځای کې چې فساد موجود وي که شخص/ سازمان (د NGOs په ګډون) وي، پر وړاندې یې د عملي ګامونو اخیستل شامل وي.
۶. د 'one stop shop' د رامینځ ته کیدو له لارې دې د مدني ټولنې څخه رپوټونه تر لاسه شي ( په بیلا بیلو فارمټونو کې د بیلابیلو رپوټونو اړتیا ته د پای ټکي کیښودل شي) او د هغوی ممکنه شکایتونه دې و ارزول شي.
۷. د اقتصاد وزیر د مدني ټولنې له کاري کمیټې او د جینوا کنفرانس له پلاوي سره پر یوې تعقیبي غونډې هوکړه وکړه څو پر دې او نورو اړوندو موضوعاتو بحث وشي.

د مدني ټولنې د غونډې بشپړ لنډیز په ۶ ضمیمه کې لوستلی شئ.

**د پالیسی اړیکې او غونډې**

د جینوا د کنفرانس په ترځ کې د افغان مدني ټولنې پلاوی له نړیوالو پالیسي جوړونکو سره په اړیکه کې و. د کنفرانس د اونۍ په اوږدو کې له لنډو خبرو اترو سر بیره دې پلاوي د امریکا، بریتانیي او جرمني له پلاوو سره په څلور بیلابیلو ناستو کې هم برخه اخیستې ده:

- د نوامبر په ۲۶ نیټه، له امریکایي پلاوي: الیس جي. ویلز، د سویلي او مرکزي آسیا لپاره د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت مرستیاله؛ او کرن فریمن؛ د امریکا د نړیوالې پراختیایي اداری (USAID) د افغانستان او پاکستان د چارو د دفتر له اداري مرستیال
- د نوامبر په ۲۷ نیټه: له جرمني پلاوي: مارټین جییګر، د جرمني پلاوي مشر؛ د اقتصادي همکاریو او پراختیا په برخه د فیډرال وزارت استازي(BMZ)
- د نوامبر په ۲۷ نیټه: د بریتانیي پلاوي: بارونس هوجسن له ابینګر؛ د ټولو ګوندونو د ښځو، سولې او امنیت د پارلماني ګروپ مرستیاله؛ او لیندي کامیرون د نړیوالې پراختیایي څانګې د پروګرامونو عمومي رئیسه.

دې غونډو د سولې د خبرو، ټاکنو، بشري او پراختیایي موضوعاتو په ګډون پر مهمو مسایلو د نظریاتو د تبادلې یو څرګند فرصت برابر کړ. د مدني ټولنې پلاوي له ۲۰۰۲ کال راهیسې د نړیوالې ټولنې له ملاتړ څخه ستاینه وکړه، او هغه یې د افغانانو د پرمختګ په برخه کې یو مهم لامل وګڼلو. هغوی وویل چې د خلکو مالکیت او ګډون ته په پام د واقعي اړتیاوو پر بنسټ د پروګرامونو طرح او پلي کول به پر نړیوالو مرستو د افغانستان تړاو راکم کړي.

د سولې د هڅو په اړه، د مدني ټولنې پلاوي په ټینګار سره وویل هغه سوله چې د خلکو ټولنیز او سیاسي حقونه ، په ځانګړې توګه د ښځو اړوند حقونه په خطر کې واچوي، د افغانانو لپاره به د منلو وړ نه وي. هغوی همدا راز د سولې په بهیر کې د ټولنې د ټولو سکټورونو پر ګډون له ټینګار سره د دې بهیر د نه بیلیدونکې برخې په توګه د ښځو د پیاوړې غږ غوښتونکې شول. د طالبانو هغو خبرو ته چې د ښځو حقونو ته به درناوی کوي، د شک له څرګندولو سره پلاوي و ویل چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې د ښځو د ژوندانه واقعیت ته په کتو سره دغه ادعاوې ناسمې؛ او که چیرې طالبان په رښتیا د ښځو حقونو ته ژمن دي، هغوی باید په خپل مرکچي پلاوي کې هم ښځې شاملې کړي.
پلاوي همدا راز و ویل چې په هیواد کې د یوې اوږد مهالې سولې د تأمین لپاره باید ټول پراختیایي همکاران د جګړې او بې عدالتۍ بنسټیز لاملونه په نښه کړي. هغوی د بیوزلۍ او په خاصه توګه د ځوانانو په مینځ کې د بیکارۍ له لوړې کچې سره د مقابلې؛ عدالت ته د خلکو د لاسرسي تضمین؛ او د معلولیت لرونکو وګړو په ګډون زیانمنونکو ډلو ته د ټولنیز ملاتړ د وړاندې کولو یادونه وکړه. د مدني ټولنې ګروپونه کولای شي چې په ټولنه کې له تاوتریخوالي خلاص یو فرهنګ او سولې په رامینځ ته کیدو کې یو مهم رول ولوبوي.

د مدني ټولنې پلاوي همدا راز د راتلونکي حکومت پر مشروعیت د آزادو او عادلانه ټاکنو پر اهمیت له ټینګار سره دا یې د سولې او اصلاحاتو په برخه کې د یو پیاوړې هوډ پیل وبللو. هغوی په ټاکنیزو ادارو کې د اصلاحاتو غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه چې نوموړي اصلاحات به د راتلونکي کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د پارلماني ټاکنو د تیروتنو نه تکرار تضمین کړي.

نړیوالو پالیسي جوړونکو هم د افغانستان د اوږد مهالې سولې او سوکالۍ لپاره د مدني ټولنې د مهم رول د ستاینې تر څنګ یې د بدلون د لسیزې په اوږدو او له هغې هاخوا افغان ولس ته د دوی پر ژمنتیا د ټینګار ترڅنګ په حکومتولۍ کې د اصلاحاتو او د سولې په خبرو کې د شمولیت څخه د ملاتړ وعده وکړه.

*د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس د پایلو لنډیز*

<u>عمومي پایلې</u>
د جینوا د کنفرانس مهمه پایله د جینوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ(GMAF) و. د دې چوکاټ سند د دوه اړخیزې حساب ورکونې له لارې په خپل ځان ویسا د چوکاټ(SMAF) یوه بیا کتل شوې نسخه ده چې په ۲۰۱۶ کال د افغانستان په اړه د براسلز په کنفرانس کې منل شوی او پرې هوکړه شوې وه. د جینوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ تر ۲۰۲۰ کال پورې په ۶ مهمو برخو کې لنډ مهالي موخې رالنډوي:

١. د امنیت او سیاسي ثبات ښه کول؛
٢. له فساد سره مبارزه، حکومتولي، د قانون واکمني، او بشري حقونه؛
٣. د عامه مالي او سوداګریزې بانکولۍ د مالي ثبات او روڼتیا بیا راګرځول؛
٤. د پراختیایي پلان جوړونې اصلاح کول او د خلکو د پراختیایي حقونو تضمین؛
٥. د خصوصي سکټور پراختیا او هر اړخیزه وده او پرمختګ؛ او
٦. پراختیایي همکارۍ او د مرستو اغیزمنتوب.

د کنفرانس اعلامیې د سولې، اصلاحاتو او پراختیا په اړه د برخه والو ټولې هوکړې یې په تفصیل سره توضیح کړې دي.

<u>د مدني ټولنې اړوندې ژمنې</u>
مدني ټولنې د کنفرانس د اونۍ په ترځ کې د افغان حکومت او نړیوالو پالیسي جوړونکو، په ځانګړې ډول د اقتصاد له وزیر ډاکټر مصطفی مستور سره چې د افغان او نړیوالې مدني ټولنې په وروستي بحث او همدا رنګه د کنفرانس په څنډه کې د مدني ټولنې په ناسته کې ګډون کړی و، او د بحث شوو موضوعاتو او ژمنو د تعقیب په موخه یې د مدني ټولنې سره د نورو ناستو هوکړه کړې وه، ډیر ګټور بحثونه درلودل.

په دې کې لاندې ژمنې شاملې وې:

د مدني ټولنې لپاره فضا
- د افغانستان په پراختیا کې د مدني ټولنې او آزادو رسنیو پر مهمې ونډې ټینګار، د حکومت پر کړنو د څارنې په ګډون په ټولو سیاسي بهیرونو کې د مدني ټولنې د ونډې د پیاوړې کولو بیا تکرار.
- افغان حکومت باید په ښکاره ډول د مدني ټولنې له ارزښت او څارونکي رول څخه ملاتړ وکړي، چې دا به د مدني ټولنې له واضح تعریف سره تسهیل شي.
- د مدني ټولنې په اړه ناسم معلومات دې رد او تصحیح شي.

- د استازولی د روښانه کیدو په موخه د مدني ټولنې یو تعریف دې و ارزول شي.

د ښکیلتیا لپاره میکانیزم

- له حکومت سره د همغږۍ هوکړه شوي میکانیزمونه دې عملي شي، څو دا تضمین شي چې د مدني ټولنې غږ اورېدل شوی دی.
- د ۲۰۱۹ کال په پای کې د کابینې له خوا د غیرې حکومتي سازمانونو د قانون له تعدیل او تصویب وروسته د مدني ټولنې د ښکیلتیا لپاره د مشورې یو رسمي بهیر دې رامینځ ته شي.

له فساد سره مبارزه

- د افغانستان راتلونکي ته د فساد سره د مبارزې پر مرکزیت اعتراف.
- له فساد سره د مبارزې لپاره دې یوه عملي تګلاره رامینځ ته شي چې په کې به ملکي کارکوونکو ته د بسیا معاشونو برابرول، له فساد سره د مبارزې له کمیسیون څخه د مدني ټولنې د استازو د حذفولو د فشار پر وړاندې مقاومت، او په هر هغه ځای کې چې فساد موجود وي که شخص/ سازمان (د NGOs په ګډون) وي، پر وړاندې یې د عملي ګامونو اخیستل شامل وي.

معلوماتو ته لاسرسي

- له اړوندو قوانینو سره سم دې مدني ټولنې ته اړین معلومات وړاندې او د معلوماتو خپرولو ته دې وده ورکړل شي.

رپوټ ورکونه

- د مناسبو او اغیزمنو خدمتونو د رامینځ ته کیدو له لارې دې د مدني ټولنې څخه رپوټونه تر لاسه شي ( په بیلا بیلو فارمټونو کې د بیلابیلو رپوټونو اړتیا ته د پای ټکي کینبودل شي) او د دوی ممکنه شکایتونه دې و ارزول شي.

سوله

- له طالبانو سره د سولې خبرې باید د یوې پراخې سیاسي اجماع پر بنسټ وي د ښځو او لږکیو پورې اړوند وګړو په ګډون د ټولنې ټول اړخونه باید په کې شامل وي.
- د جدي هڅو، اصلاحاتو او همدا راز پراخو اقتصادي او ټولنیزو پروګرامونو له لارې دې له دې سولې ملاتړ وشي.

د ښځو ګډون

- د ښځو د ټولنیزو – اقتصادي اړتیاوو او د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کچې د په نښه کولو لپاره چې په نړۍ کې تر ټولو لوړه ده باید ډیر کار وشي.
- د افغانستان د جزا د قانون او د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې د قانون له موادو سره سم د تاوتریخوالي د له مینځه وړلو او عدالت ته د مجرمینو د راوستلو په موخه د لمس وړ اقداماتو ته اړتیا ده.

د نړیوالو مرستو کچه

- د افغانستان د پراختیایي لومړیتوبونو لپاره د نړیوالې ټولنې له خوا تر ۲۰۲۰ کال پورې د ۱۵/۲میلیارد ډالرو ژمنه به په مستقیم ډول دوام ومومي خو افغانستان سره به مالي مرستې په تدریجي ډول کمیږي.

د خدمتونو وړاندې کول او له بیوزلۍ سره مبارزه

- د هیواد په کچه د بنسټیزو خدمتونو د وړاندې کولو د بهیر ښه او چټکول او د ښځو او معلولیت لرونکو وګړو په ګډون د خلکو بیلابیلو اړتیاوو ته پاملرنه.
- د معیشت د پروژو سمدستي وړاندې کول او د اقتصادي، ټولنیزو، اقلیمي او په ځانګړي ډول د کرهنیز سکټور د شوکونو پر وړاندې د مقاومت د پیاوړتیا په موخه دې اوږد مهالي حل لارې په پام کې ونیول شي.

ټاکنې

- د وړاندوینې له مخې په ۲۰۱۹ کال کې د ولسمشریزو او نورو ټاکنو لپاره اغیزمن تیاری څو روڼتیا، اعتبار، ګډون او امنیت تضمین کړي.

**رسنیزې اړیکې**

په جینوا کې د یو میشت سلاکار په مرسته، د مدني ټولنې پلاوی په جینوا کې د میشتو او نړیوالو رسنیزو کانالونو سره ښکیل شو. د بي بي سي د نړیوال کانال او الجزیرې په ګډون په ټولیز ډول ۲۴ مرکې له چاپي او نشراتي رسنیو سره تر سره شوې. لږ تر لږه د ۴۰ چاپي انګلیسي، فرانسوي، هسپانوي، پرتګالي، جرمني، ناروېژي او نورو اروپایي چاپي رسنیو په مقالو کې د مدني ټولنې د یو پلاوي یادونه شوې وه. د رسنیو دغه پراخ پوښښ له ټاکلو موخو څخه لوړ و.

په دې مرکو کې، نوموړي پلاوي د ملکیانو پر وړاندې د تاوتریخوالي او زیانونو د درولو؛ ټاکنیزو اصلاحاتو؛ د ښځو او معلولیت لرونکو وګړو په ګډون چې له نابرابرۍ او خدمتونو ته له نه لاسرسۍ سره مخامخ دي د مرستې؛ او د افغان کلیوالو ټولنو سره د وچکالۍ د زیانونو د جبیرې په برخه کې د ملاتړ په ګډون د بیلابیلو موضوعګانو له لارې د افغانانو غږ اوچت کړی دی.

له رسنیو سره د اړیکو لپاره د اغیزمنې تیارۍ د تضمین په موخه، رسنیزو کانالونو ته د مدني ټولنې د پلاوي لنډې بیوګرافي ویشل شوې وې، چې دا د (BAAG) په ویب پاڼه او د ټولنیزو رسنیو په موادو کې هم کارول شوې وې. سربیره پر دې، له کنفرانس نه وړاندې یو مطبوعاتي مطلب د ملګرو ملتونو (UN) مطبوعاتي پلاوي او نورو رسنیو ته لیږل شوی و. د دې په پایله کې(UN) په جینوا کې د ملګرو ملتونو د خبریالانو د ټولنې د ۱۲ خبریالانو، دوه استازوو او د (BAAG) د رئیس په

ګډون د مدني ټولنې یو مطبوعاتي کنفرانس جوړیدو ته لاره هواره کړه. سر بیره پر دې، د رسنی سلاکار دې پلاوي ته یوه روزنیزه جلسه هم برابر کړه چې په کې له نړیوالو رسنیو سره د مرکې د تخنیک کارول شامل وو.

**تعقیب او نور پړاوونه**

*د افغانستان په اړه جینوا کنفرانس په اړه د افغان مدني ټولنې بیان*

له جینوا کنفرانس وروسته، د مدني ټولنې بیان د هوکړه شوو پالیسي پاڼو او د کنفرانس په ترڅ کې د شوو ژمنو پر بنسټ برابر شو. په دې کې د کنفرانس اعلامیه، د جینوا د دوه اړخیزو هوکړو چوکاټ (GMAF) او د جینوا په اصلي غونډه او د کنفرانس د څنډې په ناستو کې د پلاوي بیانونه شامل وو. د مدني ټولنې په بیان کې راغلي چې د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس د افغانستان د اوږد مهالي سولې او سوکالۍ لپاره د نړیوال درک او ملاتړ د ودې پر لور یو غوره ګام و. د دې تر څنګ، د بیلابیلو موضوعاتو لاندې د جینوا د کنفرانس د مهمو پایلو شننه شوې وه او د مدني ټولنې د کاري کمیټې او جینوا کنفرانس ته د مدني ټولنې د پلاوي له خوا نور سمدستي غبرګونونه او وړاندیزونه هم وړاندې شوي دي.

جینوا کنفرانس ته د افغان مدني ټولنې د بیان بشپړ متن په ۷ ضمیمه کې لوستلی شئ.

*د تعقیب لپاره پلانونه*

په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان په اړه د براسلز د کنفرانس په څیر، د مدني ټولنې کاري کمیټې (CSWC) او د مدني ټولنې پلاوي وړتییله چې په ځانګړي ډول د راتلوونکو نړیوالو غونډو لکه د ګډې همغږۍ او څارنې د پلاوي غونډې او په ۲۰۲۰ کال کې د نړیوالو ژمنو کنفرانس ته د تیاري په لړ کې د جینوا د کنفرانس په ترڅ کې شوي ژمنې به تعقیبوي او د دې د څار پر څرنګوالي به بحث کوي. د تعقیب یا څار په اوسنیو پلانونو کې د جینوا د کنفرانس د پایلو په اړه ولایتونو ته د رپوټ ورکونې لپاره تلل او د نظریاتو راغونډول شامل دي څو په څارنه او راتلوونکو مشورو کې د ولایتي مدني ټولنو حضور تضمین کړي. په اوسنیو پلانونو کې د (GMAF) د هرو شپږو حوزو( احتمالي رپوټ) څارنه او د (GMAF) شپږو حوزو پورې اړوند د رپوټونو او نورو چاپي معلوماتو لپاره د یوه مرکز جوړول شامل دي.

ضميمي

**۱ ضميمه. د مدني ټولنې د کاري کميټې غړي**

۱. د افغان غير حکومتي سازمانونو د همغږۍ پلاوی (ANCB)
۲. د افغان ښځو شبکه (AWN)
۳. د افغان ښځو روزنيز مرکز (AWEC)
۴. د افغانستان د مدني ټولنې د مجتمع سازمان (ACSFo)
۵. د افغانستان د پوهنې ملي ائتلاف (ANEC)
۶. افغانانو لپاره د بشري او پراختيايي مرستو د همغږۍ اداره (ACBAR)
۷. د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکه (CSHRN)
۸. د مدني ټولنې ګډه کاري ډله (CS-JWG)
۹. د معلولينو لپاره ټولنيز مرکز (CCD)
۱۰. د قانون غوښتونکی (DQG)
۱۱. د سولې او ډيموکراسۍ لپاره برابري (EPD)
۱۲. د افغانستان د روڼتيا د څار سازمان (IWA)
۱۳. د صلاح کنسرسيم يا ائتلاف
۱۴. د سنايي پراختيايي سازمان (SDO)
۱۵. د همغږۍ لپاره د سويل لويديځ افغانستان او بلوچستان ټولنه (SWABAC)
۱۶. د اړيکو دفتر (TLO)
۱۷. د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ (TEFA)
۱۸. د ښځو او ماشومانو د حقوقي څېړنو بنسټ (WCLRF)

## ۲ ضمیمه: د ولایتي مدني ټولنې د مشورو رپوټ

سریزه

په ۲۰۱۸ کال کې (BAAG) او د مدني ټولنې کاري کمیټې (CSWC) د افغانستان په اړه د جینوا له کنفرانس وړاندې، د کنفرانس په ترڅ او له کنفرانس راوروسته د مدني ټولنې د غږ د اوچتولو لپاره له څلورو نړیوالو بسپنه ورکوونکو(DFID، SDC، SIDA او GIZ ) څخه مالي ملاتړ تر لاسه کړ. جینوا کنفرانس ته د تیاریو د برخې په توګه ولایتي تسهیل کوونکو سازمانونو (PFO) د افغانستان د ۳۴ ولایتونو د مدني ټولنې له غړو سره د ګروپي متمرکزو بحثونو(FGD) په بڼه د مشورو لړۍ پیل کړه. د دې فوکس ګروپونو موخه د پراختیایي موضوعاتو په اړه د ولایتي مدني ټولنو د نظرونو تر لاسه کول او د معلوماتو له اړخه په جینوا کنفرانس کې د مدني ټولنې د مدافعې د وړاندې شوو پیغامونو بډایه کول و. په پایله کې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۵ او ۲۹ نیټه ۷ (PFO) جوړ او په ۳۴ ولایتونو کې یې فوکس ګروپونه په لاره واچول او په دې توګه د مدني ټولنې د ۹۱۷ (۵۷۷ نارینه وو او ۳۴۰ میرمنو) غړونه او نظریاتو ته یې پوښښ ورکړ.

بیا وروسته(BAAG) او (CSWC) له هر فوکس ګروپ څخه تر لاسه شوي معلومات راغونډ او شننه یې وکړه چې بیا په کابل کې د مدني ټولنې د ملي کنفرانس په بحثونو او د ۲۰۱۸ کال د نوامبر د میاشتې د جینوا په کنفرانس کې د مدني ټولنې د مدافعې په مهمو پیغامونو کې وکارول شول.

د دې فعالیت د پلان جوړونې، طرحې او تیارۍ د برخې په توګه، د مدني ټولنې کاري کمیټې په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان په اړه د براسلز له کنفرانس څخه وړاندې د تر سره شوو ولایتي مشورو بیا کتنه وکړه او هغه غوره توبونه او ټکي یې پلي کړل چې د دوی په آند مهم وو. په پای کې، د مدني ټولنې کاري کمیټې او ونډه والو ( د ۸ سیمو پر ځای ۳۴ ولایتونو) سره چې لاسرسي ورته زیاته وه مشوري پیل کړې، او په ولایتي فوکس ګروپ کې د ګډونوالو د پراخ استازیتوب د تضمین په موخه د بلنې له نوملړ څخه له هر یوه کس سره یې پر هغو لارو چارو بحث وکړ څو دا بهیر د اعتبار وړ ښکاره او د مدني ټولنې د کار او وړاندیزونو ښې بیلګې او شواهد وړاندې کړې.

کړنلاره

د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر په میاشت کې، (BAAG) او (CSWC) د ولایتي مشورو لپاره تیارۍ ونیو. په دې هوکړه وشوه چې په ۲۰۱۶ کال کې د افغانستان په اړه د براسلز د کنفرانس له غبرګونونو وروسته، په هیواد کې د پراختیا د شرایطو د درک لپاره د ولایتي مدني ټولنې د فعالینو رأیې خورا مهمې وې. له همدې کبله جینوا کنفرانس ته د تیاري په بهیر کې د ولایتي مدني ټولنې شاملول خورا مهم وبلل شو. په ملی کچه د مدني ټولنې د اړتیاوو د په نښه کولو لپاره (BAAG) او (CSWC) د پروژې درې پړاویزه کړنلاره وکاروله.

**لومړی پړوا:** له وړاندې کولو مخکې پړاو کې، د (PFO) ټاکل، د (PFO) په اړه د due diligence (د قرارداد له لاسلیکولو وړاندې د یو کس یا یوې سوداګرۍ ارزونه) بشپړول او د ولایتي مدني ټولنې ګروپونو او فعالینو ته بلنه ورکول شامل وو. (BAAG) او (CSWC) ولایتي تسهیل کوونکي سازمانونه یې په افغانستان کې د مدني ټولنې د همغږۍ د ادارو او شبکو په لارښوونه او یا ورسره د مرستې په برخه کې د تجربې پر بنسټ وټاکل. دغه ټول ۷ ټاکل شوي سازمانونو د مدني ټولنې د ولایتي سازمانونو د یوې پراخې لړۍ استازیتوب کولو او د (BAAG) د due diligence معیارونه یې هم پوره کول. د ولایتي ګډونوالو بلنه د (PFOs) له لوري تنظیم شوه که څه هم چې (BAAG) او (CSWC) د ګډوانوالو پر لاندې معیارونو سره هوکړه کړې وه: ۱) ګډونوال باید د پروګرام/ مدافعې د برخې مدیر/ رئیس وي، یا د یو سازمان یا ګروپ مشر/ رئیس وي، د کوچنیو سازمانو لپاره یو مناسب استازی وي. ۲) د مدني ټولنې له هر سازمان څخه یو ګډونوال، ۳) NGOs/CSOs باید په حکومت کې ثبت وي، او هغه چې نه وي باید د PFO او یا د حاضرو NGOs/CSOs له لوري معرفي شي. باید هڅه وشي چې پراخ بنسټه وي میرمنو، ځوانانو او معلولیت لرونکو وګړو ته هم بلنه ورکړي. ملکي کارکوونکي، د خصوصي سکټور کارکوونکي، د ولایتي شورا غړي او د سیاسي ګوندونو مشران په فوکس ګروپونو کې د ګډون لپاره په شرایطو برابر نه دي.

**دوهم پړاو:** په دې پړاو کې د PFO دوه تسهیل کوونکي برخه لري چې د FGD د لارښود له لارښوونو سره سم په ۳۴ ولایتونو کې فوکس ګروپونه مدیریت کوي( ضمیمه وګورئ). هرPFO د زیاتو ګډونوالو د هڅونې او د هغوی د ساتنې په موخه په دې مکلف و څو د فوکس ګروپ لپاره یو خوندي، امن او مناسب ځای برابر کړي. په ټوله کې د مدني ټولنې ۹۱۷ فعالینو په خپل ګډون سره د سازمانونو له یوې پراخې لړۍ استازولي کوله ( عامو ګروپونو، ځوانانو، د ښځو د مشرتابه ګروپونو، د مدني ټولنې سازمانونو او د مدني ټولنې شبکو) د موضوع اړوند د پوهې او تجربو یوه لړۍ وړاندې کړه. یو ورځني فوکس ګروپ یوه مفصله اجندا تعقیب کړه چې په کې دوه نظر پوښتنې، درې د بحث ټکو او په کابل کې د ملي کنفرانس لپاره د ولایتي مدني ټولنې د دوه استازو( یو نارینه او یوې میرمنې) د ټاکلو لپاره یوه ټاکنه شامله وه( د دې اجندا یوه کاپي په همدې ضمیمه کې لوستلی شئ). یواځې یو تسهیل کوونکي د ارزګان په ولایت کې پریکړه وکړه چې دوه جلا فوکس ګروپونه به جوړوي یو د نارینه وو او بل د میرمنو لپاره. د نارینه وو او ښځو بیلول به ښایي ستونزمن و خو له دې سره نارینه او ښځې په دې و توانیدل چې د خپلو نظرونو په اړه د نیوکو او سزا له ویرې پرته په آزاده توګه خبرې وکړي. سر بیره پر دې، دا کار د زیات شمیر نارینه وو او میرمنو د ګډون لامل شو او په خپل ولایت کې د مدني ټولنې د اړتیا په اړه یې پوهه زیاته کړه.

په لومړۍ نظر پوښتنه کې له ګډونوالو غوښتنه وشوه که چیرې د ۲۰۱۶ کال د براسلز کنفرانس راهیسې دوی ته کارونه ډیر آسانه/ ډیر ستونزمن شوي دي، خپل لاسونه دې اوچت کړي. په دوهمه نظر پوښتنه کې له ګډونوالو غوښتنه وشوه چې د لاسونو په اوچتولو سره دا وښیيي چې د لاندې فکټورونو څخه کوم یو یې د دوي د کار ډیر اغیزمن کړی دی: د مالي مرستو نه شتون، امنیت، بلې دندې/ بل هیواد ته د کارکوونکو تلل، د مدني ټولنې د ارزښت په اړه ټیټ پوهاوي او یا نور. د ورځې پاتې ټوله برخه د درې پوښتنو له لارې پر آزاد هڅول شوي بحث تیره شوه: (۱) ستاسو په ولایت کې پراختیایي او بشري وضعیت څه ډول دی؟ (۲) په پراختیایي پروګرامونو کې درې مهم بدلونونه کوم دي چې ستاسو په و لایت کې د ژوندانه وضعیت به ښه کړي؟ (۳) آیا ګډونوال غواړي چې له ستونزو سره د مخامخ کیدو په اړه خپلې هغه تجربې شریکې کړي چې د هغوی د بریا او اغیزو څرګندونه وکړي.

د فوکس ګروپ په وروستی برخه کې د ټولو ګډونوالو له خوا د ۲۰۱۸ کال د نوامبر په ۱۱ او ۱۲ نیټه په کابل کې د مدني ټولنې په ملي کنفرانس کې د ګډون لپاره د دوه استازو نوماندول شامل وو. د آزادو او عادلانه ټاکنو د تضمین په موخه تسهیل کوونکي د (BAAG) او (CSWC) له خوا برابرې شوې لارښوونې تعقیب کړې. ټولو ګډونوالو کولای شول چې خپل ځان او یا بل کس نوماند کړي او تسهیل کوونکي به د هغوی نومونه په فلیپ چارټ لیکل. یوه سري رأیه ورکونه تر سره شوه. په ځینو فوکس ګروپونو کې نوماندانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړ شوی و څو د خپلو وړتیاوو په اړه خلکو ته خبرې وکړي. د رأیه ورکونې په دوه یا درې نورو دورو کې چې تر سره به شوې یو شمیر نوماندان له تر ټولو ټیټو رأیو سره به له ټاکنو حذف شول، او په دې توګه دوه تر ټولو غوره نوماندان وټاکل شول. په پای کې په ملي کنفرانس کې د ګډون لپاره ۶۸ کسیز ولایتي پلاوی تأیید شو او د خپلو همکارانو او ټولنو نظریات او غړونه یې وړاندې کړ.

**دریم پړاو**: شننې او پایلې، په دې کې د (PFOs) له خوا انګلیسي ژبې ته د فوکس ګروپونو د موندنو ژباړه او (BAAG) ته له هر ولایته د فوکس ګروپ د یو رپوټ لیږل شامل وو. چې وروسته بیا (BAAG) د دې موندنو شننه وکړه او د فوکس ګروپ له لیږل شوي رپوټ څخه کیفي او کمي معلومات او ارقام یې سره پرتله او په کابل کې د مدني ټولنې له ملي کنفرانس وړاندې (CSWC) ته وړاندې کړل. د هر ولایتي فوکس ګروپ رپوټ په ۸ سیمه ایزو رپوټونو او یو ملي لنډیز کې سره یوځای شول چې بیا د جینوا کنفرانس په تیاری کې و کارول شول. موندنې د مدني ټولنې د دریځ په مقاله، د جینوا کنفرانس په بیان او بې شمیرو مطبوعاتي مطالبو کې د جزئیاتو د ورزیاتولو او د معلوماتو د لومړنی سرچینې په توګه وکارول شول.

محدودیتونه

د پورتنیو نظر پوښتنو او پوښتنو محدودیتونه د شننې او رپوټ ورکونې په پړاو کې یادداشت شوي دي. ځینو ولایتي احصائیو ځینې غیرې منظمې نښې ښودلې چې شننه یې د پایلې ته ورسوله چې یا ګډونوال په سمه توګه په پوښتنه نه دي پوه شوي او یا تسهیل کوونکي ته د ځینې موضوعاتو توضیح کول ستونزمن و. د بیلګې په توګه په یوه سیمه کې چې د خپلې نا امنۍ له کبله مشهوره وه په یو ولایتي فوکس ګروپ کې ویل شوي چې نا امنۍ د دوی پر کارونو یې اغیزه نه ده کړې که څه هم چې وروسته په بحث کې بیا له دې د یوې ستونزې په توګه یادونه شوې وه. لوستوونکي هم ښایي د سیمه ایزو رپوټونو په جزئیاتو او د ورته دلایلو لپاره د فوکس ګروپونو په معلوماتو کې بی نظمي وګوري. د ولایتي فوکس ګروپونو راټلوونکي کمپاینونه به د تسهیل او معلوماتو د راغونډولو د کړنلارو په اړه (PFO) ته روزنې په پام کې ونیسي.

موندنو ته یوه لنډه کتنه

په ټوله کې، د ۳۴ ولایتونو مشورو افغانستان یې د داسې یو هیواد په توګه وښودلو چې سره له دې چې له ډیرو ناخوالو سره لاس او ګریوان دی خو د سوکالۍ په لټه کې دی. د هیواد په کچه نا امني د مدني ټولنې د کار له تر ټولو ستر اغیزمنونکي فکټور په توګه وګڼل شو چې ورسره د تمویل نشتوالی اکثراً په دوهم ځای کې او په ځینو ولایتونو کې په لومړي ځای کې و. د مدني ټولنې له خوا په خپله خوښه د بې توپیره شخړو په وړاندې له خلکو څخه د ساتنې او د بشري حقونو د ملاتړ ډیرې بیلګې یادې شوي دي. په هره سیمه کې لږ تر لږه ۱-۲ ولایتونو د مدني ټولنې د ارزښت په اړه ټیټ پوهاوی د خپل کار د یو مهم اغیزمنوونکي فکټور په توګه یاد کړ، چې دا فکټور په بغلان او تخار کې له نا امنۍ سره په مساوي توګه یاد شو.

فساد او نا امني په سیمه ایزه، ولایتي او ملي کچه پراخه ستونزه ده چې د پراختیایي او بشري پروګرامونو د اغیزمنتوب د راکمولو له لارې د افغانستان د سوکالۍ پر لاره خنډ جوړوي. پوهنه ( د لوړو زدکړو په ګډون) او روغتیایي خدمتونه کمزوري دي او چیرې چې موجود دي کیفیت یې ټیټ دی او ډیر خلک ورته لاسرسی نه لري. د جنسیتي نابرابری او محدودیتونو، د وړتیا لروونکو کارکوونکو د نه شتون او کمزورو زیربناوو په ګډون د بیلابیلو دلایلو له کبله لاسرسي محدوده شوې ده. په اکثرو ولایتونو کې د زیربناوو د عصري کولو لپاره پیاوړې غوښتنه وشوه څو ټولنې سره وصل او ټولنیزو- اقتصادي فرصتونو ته لاسرسي ښه شي. د لارو، اوبو او د اوبو لګولو د سیستمونو او بندونو د اوسنې کمزورۍ وضعیت له کبله د خوړو خوندیتوب ډیر ناوړه دی او د کرهنې په څیر مهم سکټورونه یې اغیزمن کړي دي. په ۵۰ سلنه فوکس ګروپونو کې له کرهنې د معیشت د بنسټیزې سرچینې په توګه یادونه شوې ده، خو د هیواد په کچه د زیاتې پراختیا لپاره د بسیا سرچینو( ماشینونه، اصلاح شوي

تخمونه)، میکانیزمونو( سبسایډي یا د حکومت له خوا مالي مرستې)، او زیربناوو( د اوبو لګولو سیستمونه) نه شتون محسوسیږي.

په ډیرو سیمو کې د داخلي بیځایه شوو وګړو کچه لوړه ده چې مرستو او د کار فرصتونو ته اړه او یا هیڅ لاسرسي نه لري نو ځکه بیوزلي زیاته شوې ده. د دې پراخو ستونزو په پایله کې د مدني ټولنې ګڼو سازمانونو خپلو ټولنو سره د مرستې د فعالیتونو په تر سره کولو او همغږۍ کې ډیرې ستونزې ګاللي دي. په لویدیځه سیمه کې ګډونوالو زیاته کړه چې د پایلې په توګه دوی و نه توانیدل چې (SDGs) په پوره ډول پلي کړي.

ګډونوال په دې باور وو چې له درې لارو د خلکو ژوند ښه کیدای شي؛ د پانګونې، اصلاحاتو او ملاتړ. پر زیربناوو، کرهنه او د دندو پر پروګرامونو پانګونه به سیمه ایز معیشت او اقتصاد ته وده ورکړي. لومړی تر هر څه دوی د لارو، بندونو، د اوبو لګولو د سیستمونو د جوړولو، او د زیربنا د لومړنیو اړتیاوو په توګه د بریښنا د یوې فعالې شبکې او انټرنیټ له لارې د انسانانو د اړیکو زیاتولو یادونه وکړه. دوهم، د کرهنې په برخه کې پر وسایلو، روزنو او د حکومت پر سبسایډۍ ( د حکومت مالي مرستو) پانګونه به دا سکټور د وچکالۍ د خطرونو د کابو کولو او په سیمه ایزه کچه د سیالۍ جوګه کړي. او دریم، هغه لویانو ته چې زیاتې مسلکي وړتیاوې او مهارتونه لري پر ملي او غیر رسمي ښوونیزو پروګرامونو پانګونه به خلک د دې جوګه کړي چې په سیمه ایزه کچه کاري فرصتونه رامینځ ته کړي.

د یو بیا کتل شوي نصاب له لارې د پوهنې د سکټور اصلاح کول، د ښوونکو لپاره روزنې به د کیفیت د لوړولو لامل شي او لوړو زده کړو ته زیاته لاسرسي به خلک د راتلونکو نسلونو د بډایه کیدو جوګه کړي. د روغتیایي پاملرنو اصلاح کولای شي ټولو ډاکترانو ته د مسلکي وړتیا د تضمین او د ګټورو تجهیزاتو د برابرو له لارې اوسنې خدمتونه ښه کړي. اصلاحات کیدای شي حکومت او نړیوالو بسپنه ورکوونکو ته د مدني ټولنې د مدافعې له لارې وهڅول شي، خو دا د مدني ټولنې دفعالینو په مینځ کې ډیرې همغږۍ ته اړتیا لري.

له فساد سره د مبارزې لپاره د سیمه ایز، ولایتي او ملي حکومت په پټه له ټولو ولایتونو پیاوړی ملاتړ راغلی دی. ګډونوالو همدا راز د خلکو، مدني ټولنې د سازمانونو، او سیمه ایز حکومت تر مینځ د زیاتو اړیکو غوښتنه وکړه څو باور رامینځ ته او سوله و هڅوي. ګډونوالو مدافعه یې په عامه پروګرامونو کې د ټولنې د نظر څرګندولو، معلوماتو ته د لاسرسی او آزادو ویناوو د هڅونې یوه وسیله وګڼله، او له دې لارې به ښایي دوی و کولی شي چې خپل حکومت او د مدني ټولنې فعالین حساب ورکوونکي وساتي.

له ننګونو سره سره، په ځینو برخو کې برخه والو د بریالیتوب احساس کولو. په ځانګړي ډول د برخه والو یو د پام وړ شمیرې په خپلو ټولنو کې زده کړې ته د نجونو او ځوانو میرمنو د لاسرسي د تضمین، د خپلو کورنیو، د ټولنو د مشرانو او په یوه قضیه کې، د طالبانو سره د شخړو د مینځګړیتوب برخه کې کار کړی دی. د مدني ټولنې سازمانونو (CSOs) د بیړنیو بشري مرستو په غبرګون کې د داخلي بیځایه شوو وګړو او کوربه ټولنو تر مینځ د شخړو د حل، او د باور رامینځ ته کولو په موخه د حکومت او سیمه ایزو چارواکو له ونډې سره د خلکو د آشنایی په برخه کې مهم رول لوبولی دی.
د افغانستان په کچه فعالانو په خپلو ټولنو کې زیانمنوونکو ګروپونو ته د فرصتونو د چمتو کولو د هڅو مشري کړې ده. د مدني ټولنې سازمانونو په نشه ای توکو روږدو کسانو ته د نوو سپورټونو او د سرګرموونکو فعالیتونو نه نیولې د ځوانانو په مشرۍ د کتابتونونو او تیاترونو هڅولو پورې، خپلو ټولنو ته په دوامداره توګه ارزښتاک خدمتونه وړاندې کړي دي.

## <u>سیمه ایزې موندنې</u>

١. <u>سویل</u>
( هلمند، کندهار، ارزګان، زابل)

<u>لنډیز</u>

په سویلي سیمه کې ١٠٥ کسانو (٧٤ نارینه او ٣١ میرمني) په څلورو فوکس ګروپونو کې برخه اخیستې وه. په ټولیز ډول د دې سیمې برخه والو امنیت (٩٠ سلنه) او د مالي مرستو نشتوالی (٨٧ سلنه) د مدني ټولنې د فعالیتونو لومړني اغیزمنوونکي فکټورونه وبلل. د مدني ټولنې د ارزښت په اړه ټیټ پوهاوي (٧٤ سلنه) دا پوښتنې وزیږولې چې د مدني ټولنې سازمانونه څنګه د ټولنو په مینځ کې خپل اعتبار ښه کولای شي په داسې حال کې چې د کارکوونکو ساتنه (٣٠ سلنه) دا په ډاګه کوي چې د مدني ټولنې د سازمانونو ظرفیت ټلپاتې دی.

په دې سیمه کې د مدني ټولنې د سازمانونو د کار پر وړاندې د یو لړ نورو اغیزمنوونکو فکټورونو یادونه هم وشوه، چې په کې د مدني ټولنې سازمانونو ته د ملاتړ د نشتوالي (هلمند)، د دودونو ته ګواښونه(ارزګان)، او کم ظرفیت (زابل) شامل دي.

<u>په دې سیمه کې پراختیایي او بشري وضعیت</u>

نا امني او 'پراخ ځایي' فساد د سیمې د زیربنا او عامه خدمتونو د وړاندې کولو د مهمو اغیزمنوونکو فکټورونو په توګه مطرح شول. ټولو ولایتونو د نا امنۍ د محصول په توګه د پوهنې، دندو او روغتیایي خدمتونو د نشتوالي یادونه وکړه او د داسې کړنلارو پلې کیدو ته ستړګې په لاره وو چې دواړه سیمه ایز او مرکزي حکومت حساب ورکوونکي وساتي. هلمند او زابل د یو بشري خطر په توګه د بې کچې روغتیایي سیسټم یادونه وکړه دا ځکه چې یو محدود شمیر روغتیایي مرکزونه شتون لري خو په پوره او مناسبو وسایلو سمبال نه دي ( درمل په کې محدود دي)، د کارکوونکو شمیر یې کم ( یوه ولسوالي تر پوښښ لاندې نه شي نیولی) او اغیزمن نه دي ( یا ښځینه ډاکټراني نه لري او یا د ډاکټرانو وړتیا پر معیارونو برابره نه ده)

کمزوری تعلیمي نظام او د حکومت له خوا د څار او مقرراتو نه شتون په ټولیزه توګه په سویلي سیمه کې خپور دی. په دې اړه چې دا ټول د حکومت په لیکو کې د فساد زیږنده دی، یوې ټولیزې اجماع شتون درلود.

خلک په دې اړه خورا اندیښمن دي چې راتلوونکي نسلونه به پر خپلو حقونو پوه نه شي او د رأیې ورکونې جوګه به نه وي. ټولو ولایتونو د یو ښښیړ نصاب د نه شتون له امله د ټیټ ستندرد پوهنیز نظام، د ښوونکو د محدود شمیر او د پروژو د کمزورې پلان جوړونې یادونه وکړه. ګڼ شمیر ښوونځي په ملکي مرکزونو کې کلیو او کلیوالو ټولنو ته له درناوي پرته جوړیږي. دودونو د پوهنې په اړه د منفي انګیرنو په رامینځ ته کیدو کې مهم رول لوبولی دی. ځینو برخه والو لویانو ته د غیرې رسمي ښوونې او روزنې او د حساسولو د کمپاینونو له لارې پر خرافاتو او ناوړه دودونو د بر لاسه کیدو اړتیا یاده کړه. د بیوزلۍ لوړه کچه او د بېکارۍ د کچې د ټیټولو لپاره د حکومتي میکانیزمونو نه شتون د دې تعلیمي ستونزو تشدیدونکي وګڼل شول. په سویل کې کرهڼه د معیشت لومړنۍ وسیله ده او ګڼ شمیر ولایتونه له دې وضعیت څخه راضي وو. یواځې هلمند د کمزورې کرهڼې یادونه وکړه او پر حکومت یې غږ وکړ چې هغو پروژو ته لومړیتوب ورکړي چې په دې سکټور کې ښوونې او روزنې او دندې زیاتې کړي.

<u>مهم سیمه ایز لومړیتوبونه</u>

- د ملي امنیت سمون، له سیمه ایزو او ملي سوله جوړوونکو هڅو نه ملاتړ
- د ښوونیز نظام سمون، د ولسوالي په کچه تعلیم ته د لاسرسی په برخه کې ملي او سیمه ایز حکومت مسؤول ګڼل. لویانو ته د غیرې رسمي روزنو (د سواد زده کړه، او د حساب زده کړه) او کلتوري پوهاوي وړاندې کول. د تعلیمي پروګرامونو د رامینځ ته کیدو لپاره د عامه کړنلارو کارول.
- له فساد سره د مبارزې لپاره د حکومتولۍ په جوړښتونو کې د اصلاحاتو تضمین. په اداري، پلټنې او د پالیسی په کارونه کې نوو میکانیزومونو ته اړتیا ده.
- د جنسیتي برابرۍ په موخه د ټولنې د پیوستون د پروګرامونو هڅول او د ښځو د حقونو پر وړاندې د کلتوري او مذهبي خنډونو سپړل.
- د سیمه ایزو پراختیایي پروګرامونو په برخه کې د ټولنیز مالکیت پیاوړي کول.

<u>د ستونزو پر وړاندې د بریا بیلګې(۳)</u>

د هلمند فوکس ګروپ په ټولنیزو پراختیایي پروګرامونو کې د ځوانانو د ګډون د زیاتیدو او په ملي او سیمه ایز حکومت کې خپلو کمپاینونو ته د لابي په موخه له پالیسي جوړوونکو سره د مدني ټولنې د سازمانونو پراړیکو د باور له زیاتیدو یادونه وکړه.

په ارزګان ولایت کې د سټیزن چارټر او د ځوانانو د پروګرامونو پیل د ملي یووالي د حکومت په اړه یې د خلکو نظر بدل کړی دی. د سواد د زده کړې نوي کورسونه ( غیرې رسمي زده کړې) او په سیاسي، کلتوري او ټولنیز ډګر کې د ښځو مخ په زیاتیدو ګډون ټول د حکومت په وړاندې د ټولنیزو ژمنو او باور د زیاتیدو زیری ورکوي.

او د زابل په فوکس ګروپ کې د مدني ټولنې د سازمانونو او غیرې حکومتي سازمانونو تر مینځ د ښې همغږۍ یادونه وشوه چې دې کار دوی یې هڅولي څو پیاوړي پروګرامونه وړاندې کړي، ظرفیتونه لوړ او په خپلو ټولنو کې یوه مثبته اغیزه ولري. دا د دې لامل شوی چې د مدني ټولنې سازمانونه له بسپنه ورکوونکو سره په اړیکه کې د زیات اطمینان احساس وکړي او چارواکي د خپلو کړنو په وړاندې مسؤول وګڼي.

## ۲. سویل ختیځ

( خوست، پکتیا، پکتیکا)

### لنډیز

په سویل ختیځ سیمه کې ۹۴ کسانو (۵۹ نارینه او ۳۵ میرمنې) په دری ولایتي فوکس ګروپونو کې برخه اخیستې وه. په دې سیمه کې برخه والو په ټولیز ډول نا امني (۸۸ سلنه) د مالي مرستو نه شتون (۷۱ سلنه) او د دندو پرېښودل (۶۱ سلنه) یې د مدني ټولنې د سازمانونو د فعالیتونو په وړاندې د لومړنیو اغیزمنوونکو فکټورونو په توګه یاد کړل. د مدني ټولنې د ارزښت اړوند تیټې پوهاوي (۳۷ سلنه) دا پوښتنه را وزیږوله چې د مدني ټولنې سازمانونه به څنګه په خپله ټولنه‌کې ښه اعتبار پیاوړی کړي.

په خوست ولایت کې د فوکس ګروپ ټولو ښځینه برخه والو سیمه ایزه اداره یې د ' سیاسي ګومارنو' له کبله پړه وګڼله. دوی ادعا وکړه چې د ګومارنو په بهیر کې د سیاسي نفوذ له امله هغه دندې چې باید ښځو ته ورکړل شوې وې نارینه وو ته ورکول کیږي. همدې ګروپ په هغو پروژو کې چې د مدني ټولنې سازمانونه په پلټنې یا تفتیش کې برخه نه لري د سیمه ایزو پروژو په مزایده کې د زیات فساد یادونه وکړه. په پکتیا کې، برخه والو فکر کولو چې د څار لا ښه فعالیتونه تر سره کیدی شي او د یوې بلې ولایتي مشورې په ګډون یې په ۲۰۱۹ کال کې د څار د یو بشپړ میکانیزم او د ولایتي رپوټ غوښتنه وکړه.

### په سیمه کې پراختیایي او بشري وضعیت

په سویل ختیځه سیمه کې د فوکس ګروپ ګډونوالو نا امني او فساد یې د خورا مهمو ستونزو په توګه یاد کړل او د نور ولایتونو په څیر دوی هم حکومت یې د بلواګرو ډلو په وړاندې د بې ګټې کردار له امله مسؤول وګڼلو. یواځې پکتیکا ولایت کې که څه هم چې د ولایت زیاتره برخه د ' حکومتي ضد عناصرو' تر ولکې لاندې ده خو په ځینو سیمو کې د حکومت د امنیتي حضور د زیاتیدو له کبله د وضعیت د ښه کیدو یادونه وشوه.

بیکاري او بې کفیته ښوونیز نظام پر ټول ولایت حاکم دی چې د حکومت د نه پاملرنې له امله په ټوله سیمه کې د بیوزلی کچه مخ په لوړیدو ده. د سویل ختیځې سیمې ټولو ولایتونو کې د حکومت له خوا د ښوونیز نظام د مقرراتو او څارنې د نه شتون یادونه وشوه. په دې اړه چې دا ټولې ستونزې د حکومت په لیکو کې د فساد د شتون له امله دي او له بیکاری او جنسیتي نابرابرۍ سره اړیکې لري یوه عمومي اجماع موجوده وه. سره له دې هم د پکتیا د کلیوالو سیمو په روغتونونو کې د قابلګی په برخه کې د ښځو د ګومارنې کچه ۲۰ سلنې ته او د نجونو د تعلیم کچه ۵ سلنه لوړه شوې ده. په خوست کې، 'خصوصي سکټور' یا ' د کار رامینځ ته کولو ' پروګرامونه د عامه سکټور په پرتله ډیر ګټور ګڼل کیدل چې ښځو ته د خیاطۍ په څیر د معیشت روزنې ورکوي. په داسې حال کې چې د ځنګلونو له مینځه وړنه مخ په زیاتیدو ده، کرهڼه د اصلي معیشت په توګه وچو میوو ته د ګدامونو او اصلاح شوو تخمونو ته د لاسرسی د کمیدو له کبله له ننګونو سره مخ ده. برخه وال په دې باور وو چې د پروسس ماشینونو (د اوړو کولو ماشینونو یا ژرندو) ته د کم لاسرسي له امله د تولید شوو ( منو، اوربشو) یوه زیاته برخه په خوړا ټیټه بیه صادره شوې ده.

سر بیره پر دې، په ملي او سیمه ایزه کچه په حکومتي ادارو کې د فساد د شتون له امله بشري او پراختیایي نوښتونه بې اغیزې دي. د سیاسي اړیکو پر بنسټ د دندو ورکول او د پراختیایي بودیجې ناسم مدیریت د فساد بنې دي. د بودیجې د اختلاس په برخه کې ولایتي چارواکي پړ وبلل شول. په پایله کې، برخه والو د زیانمنوونکو خلکو او داخلي بیځایه شوو وګړو په اړه د حکومت له ناغیرۍ هم پرده پورته کړه. خوست کې په ځانګړې ډول د ژمي له رارسیدو وړاندې د داخلي بیځایه شوو خلکو د وضعیت په اړه خواشیني موجوده وه ځکه چې حکومت ( ملي او سیمه ایز) په دې اړه کوم پلان نه لري او نړیوال غیر حکومتي سازمانونه ' له پاکستانه را کډه شوو کډوالو' ته لومړیتوب ورکوي. خوست او پکتیا د بې کیفیته روغتیایي سیستم له امله د بشري خطرونو د زیاتیدو یادونه وکړه، په تیره بیا په پکتیا کې د زیات شمیر داخلي بیځایه شوو د شتون له امله دا ستونزه نوره هم جدي وګڼل شوه. روغتیایي مرکزونونه نه شته ، او که چیرې موجود هم وي پر وسایلو پوره سمبال نه دي ( درمل خورا لږ دي)، کم کارکوونکي لري( یوه ولسوالي تر پوښښ لاندې نه شي راوستلی) بې کیفیته دي ( یا ښځینه ډاکترانې نه لري او یا هم ډاکتران یې په شرایطو برابر نه دي). اوبو او برېښنا ته لاسرسي محدوده ده.

مثبتو اړخونو ته هم کتنه شوې ده، په سویل ختیځه سیمه کې خوست تر ټولو لږ زیانمنونکی ولایت یاد شو، په داسې حال کې چې د پوهنې، روغتیا، معیشت په برخو کې د ستونزو د شتون له مخې له نورو ولایتونو سره برابر دی خو د ولایتي زیربنا ( سړکونو، عامه ودانیو) او روغتیا ( د ډاکترانو په شمیر کې زیاتوالی) په برخو کې ښه والی تر سترګو کیږي. په پکتیکا کې برخه وال په دې باور وو چې په تیرو پنځو کلونو کې د دوی روغتیایي خدمتونه کابو ۷۰ سلنه، کرهڼه ۵۰ سلنه ښه شوې دي، خو سره له دې هم کلیوالي روغتیایي خدمتونه همداسې کمزورې پاتې دي.

سیمه ایز مهم لومړیتوبونه

- **زیربنا:** د زیانمنوونکو کورنیو لپاره د برېښنا د ملي شبکي یا د ټولنیزو جنریټرونو جوړول. یواځې شتمني کورنۍ د جنریټرونو له لارې برېښنا ته لاسرسي لري او زیانمنوونکي کورنۍ په تورتم کي ژوند تیروي. په سیمه ایزه کچه د ټولنیزو خدمتونو په شاوخوا کي د لارو د پلانونو پلي کول( روغتیایي کلینیکونه، ښوونځي او مارکیټونه). د بندونو او زیرمو بیا رغول( په خوست کي داومنډه، مزغوره او توري اوبه). د نوو' هستوګنیزو سیمو' لپاره د ملي طرحو جوړول.
- **کرهنه**: د ځانګړو وړتیاوو د روزنیزو پروګرامونو سمون څو دوی وکولای شي د تخنیکي روزنو نه شتوالی، د ټیټ کیفیته تخمونو او کیمیاوي سرې ستونزو ته رسیدګي وکړي. د کرهنیزو طرحو او کارموندني د ملاتړ لپاره د حکومت له خوا د سبسایډي ورکړه.
- **بیکاري**: په عامه سکټور او غیر حکومتي سازمانونو کي دې د وړتیا پر بنسټ ګومارني وشي.
- **روغتیا**: د روغتیا د سکټور سمون څو دا تضمین شي چي روغتیایي نظام له ملي معیارونو سره برابر او روغتیایي کارکوونکي په پوره توګه روزل شوي او د اعتبار وړ دي.
- **عدالت ته لاسرسي**: د مدني حقونو، قانون او ټولنیزو ژمنو لپاره دې معلوماتو ته د لاسرسي کمپاین پیل شي. د بیان د آزادۍ حق دې وهڅول شي.
- **پوهنه**: د ځوانانو لپاره د سکالرشیپونو او بورسونه ورکړه، د کار موندني لپاره د روزنیزو پروګرامونواو د سواد او حساب د زدکړې غیر رسمي زده کړو هڅونه.

د ستونزو پر وړاندې د بریاوو بیلګې

د ستونزو پر وړاندې د بریا یوه عامه بیلګه د پوهني په برخه کي وه. په ټولو درې ولایتونو کي د فوکس ګروپ برخه والو د هغو نجونو او ځوانو میرمنو د ملاتړ د بیلګو یادونه وکړه چي د ښځو پر وړاندې د تبعیض او دودیزو لیدلورو له امله پوهني او معیشتونو ته لاسرسي ردوي. مدني ټولني او مذهبي مشرانو د ښځو د زده کړې او معیشت د حقونو څخه د ساتني په موخه پر تصمیم نیوونکو د نفوذ او د یوې هوکړې د تر لاسه کولو په برخه کي مهم رول لوبولی دی.

په پکتیا کي، نا امني پر هغو ستونزو ورزیاته شوې چي د دودیزو لیدلورو له کبله موجودې دي. لکه چي یوه برخه وال و ویل:

*" زمونږ په سیمه (زرمت) کي یو نړیوال غیر حکومتي سازمان یو ښوونځی جوړ کړ چیرې چي به زمونږ لونو او زامنو زده کړه کوله. له څو کلونو وروسته طالب ملیشې په دې هکله خبر شول او ښوونځي ته د نجونو له ورتګ سره یې مخالفت وښود او ویې ویل چي ښوونځي ته د ځوانو نجونو ورتګ زمونږ د کلتور سره په ټکر کي دی. نجونو به د هلکانو جامې اغوستلې څو ښوونځي ته د تګ اجازه ورکړل شي. له څو میاشتو وروسته، زمونږ د ټولني په خوښه او همغږۍ، مونږ په خپلو کورونو کي د نجونو لپاره بیل ټولګي جوړ کړل څو هغوی د طالبانو له ګواښه وساتو".*

د خوست فوکس ګروپ کي یو شمیر حسابونه وړاندې کړل چي د ښووني، جنسیتي حقونو او د ځمکي ویش تر پوښښ لاندې لري. یوه برخه وال د ښځو پر زدکړه د منفي درک د اغیزمنولو په برخه کي د مدني ټولني د سازمانونو د ونډې یادونه وکړه هغه زیاته کړه:

*"د خوست په ګوربز سیمه کي یوه قومي مشر پر خپلو شخصي پیسو د یوه ښوونځي د جوړولو لپاره یې خپله ځمکه د ټولني په واک کي ورکړې وه. خو د ښوونځي له جوړولو وروسته هغه خپلې لور ته ښوونځي ته د تګ اجازه ورنه کړه. د ده لور د زده کړې سره خورا زیاته مینه درلوده، نو د ملي آرمان د مدني ټولني له سازمان څخه یې د مرستي غوښتنه وکړه. [ د دې سازمان مشر] د نجلۍ له پلار سره و کتل او ښوونځي ته د نجلۍ د ورتګ په موخه یې له هغه سره څو ناستې وکړې، نجلۍ نیکمرغه وه، دې قومي مشر خپلې لور ته ښوونځي ته د تګ او زده کړې اجازه ورکړه."*

په پکتیا کي مدني ټولني د سیمه ایزې بسپني د راغونډولو د نوښتونو له لارې د داخلي بیځایه شوو وګړو او کډوالو د کړاوونو په راکمولو، د وینو د بانکونو سره د همغږۍ او د سرپناه په مدیریت کي مهم رول لوبولی دی. د برمل، ګومل، ارګون او ګیان ولسوالیو د مدني ټولني د سازمانو د یوې ګډې ټولني له خوا له ځایي ټولنو سره د مینځګړو په توګه له شمالي وزیرستان څخه راغلو کډوالو ته مرستي او سرپناه برابروي.

۱. <u>شمال</u>

( فاریاب، جوزجان، سمنګان، سرپل، بلخ)

<u>لنډیز</u>

د شمالي سیمې په پنځه فوکس ګروپونو کې ۱۵۰ کسانو (۹۹ نارینه او ۵۱ میرمنې) برخه اخیستې وه. که څه هم چې ټولو فوکس ګروپونو کیفي معلومات نه دي وړاندي کړي خو په نیمګړو تر لاسه شوو معلوماتو کې نا امني د برخوالو د تر ټولو ستري اندیښنې په توګه یاده شوې وه. د مالي مرستې نشتوالی، د مدني ټولنې د ارزښت په اړه ټیټه پوهه او د کارکوونکو ساتنه ټول په مساوي ډول دي، او دا پوښتنه را ولاړوي چې د مدني ټولنې سازمانونه څنګه کولای شي خپل فعالیتونه جاري وساتي او د حکومت او ټولنې ملاتړ تر لاسه کړي.

په شمال کې یو لړ نور موضوعات د مدني ټولنې د سازمانونو کار اغیزمنوي لکه د کلتوري او چاپیریال ساتنې د نوښتونو په برخه کې د فعالیتونو او بودیجې نشتوالی، د مدني ټولنې په ولایتي سازمانو کې کمزورې همغږي او کمزوری ظرفیت.

<u>په سیمه کې بشري او پراختیایي وضعیت</u>

په زیاترو شمالي ولایتونو کې نا امني او فساد د بې کیفیته ټولنیزو خدمتونو ( روغتیا او پوهنه) ستر لاملونه وبلل شول. د دې ستونزو لاملونه د سولې د غیرو فعالو یا بې ګټو کمیټو نه نیولې د بیکاری د زیاتیدو له امله د بیوزلۍ د لوړې کچې په ګډون، تر اقلیمي بدلون (وچکالي) او کمزورې حکومتولۍ پورې سره توپیر لري.

فوکس ګروپونه په دې سره موافق وو چې بې کیفیته روغتیایي او تعلیمي نظامونه وړاندې یادې شوې ستونزې یې نورې هم زیاتي کړي دي. یوه مهمه اندیښنه، په ځانګړې ډول په لیرو پرتو ولسوالیو او کلیو کې د ښوونځیو او کلینیکونو په ګډون د زیربناوو نه شتون و. چې په دې برخه کې د نصاب اړوند کتابونو، طبي تجهیزاتو او تر ټولو مهم د خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د بشري سرچینو نشتوالي( روغتیایي کارکوونکو او ښوونکو) ډیره ونډه درلوده. د بیلګې په توګه په مزار شریف کې یواځې یو د سترګو روغتون دی چې د پوره سرچینو د نه شتون له امله یې کار په ټپه دریدلی دی.

د پراخې پراختیا په برخه کې، د (SDGs) په مسؤولیت د معیشت د پروګرامونو پلي کیدل ډیر ټکني دي. په سمنګان کې، د ودې پلانونه موجود نه دي، او په فاریاب کې (۹۰ سلنه) کرهنیزه پراختیا د وچکالۍ او د اوبو لګونې د کمزورې مدیریت له امله بیرته په شا شوې ده. د حکومت، مدني ټولنې د سازمانونو او نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو تر مینځ د همغږۍ نه شتون ته رسیدګي نه ده شوې او د مرستندویو هڅو د پیل په برخه کې د سیمه ایزو ټولنو ظرفیت خورا ټیټ دی.

<u>مهم سیمه ایز لومړیتوبونه</u>

- د ملي یووالي حکومت او سیمه ایزه اداره باید ولایتي پروژو ته د کورنیو او بهرنیو پانګوالو په راجلبولو تمرکز وکړي.( پر نړیوالو مرستو لږه تکیه، پر پانګونې ډیر تمرکز)
- د ملي یووالي حکومت او بسپنه ورکوونکي باید د ښوونیز نظام پر سمون تمرکز وکړي.
- د بندونو او اوبو لګولو د سیستمونو د جوړولو او د انجینیرۍ او د تأسیساتو د ساتنې په برخه کې سیمه ایزو کارکوونکو ته د روزنیزو پروګرامونو د وړاندې کولو په ګډون پر پراختیایي زیربناوو دې پانګونه وشي.
- د مدني ټولنې د سازمانونو او سیمه ایزې ادارې تر مینځ دې همکارۍ او همغږې ساده او اغیزمنه شي.
- د ولایتي معیشتونو لپاره د کرهنیز سکټور پر سمون دې پیاوړې تمرکز وشي. په دې کې سیمه ایزو ټولنو ته د اوبو د مدیریت او ساتنې په برخه کې روزنیز پروګرامونه، د کرهنیزو وسایلو او تجهیزاتو برابرول ( تراکټور، د یوې ماشینونه) شامل دي څو په دې توګه د حاصلاتو له ودې سره مرسته وشي.

<u>د ستونزو په وړاندې د بریاوو بیلګې</u>

جوزجان ولایت په ټولنو کې د ټولنیزې اقتصادي پیاوړتیا په برخه کې د مدني ټولنې د سازمانونو د لاسته راوړنو یادونه وکړه. په ۲۰۱۸ کال کې د مدني ټولنې د بنسټونو شبکه په دې موخه رامینځ ته شوه څو دا تضمین کړي چې د مدني ټولنې سازمانونو په یوه همغږې او دوامداره بڼه یې خپل فعالیتونه ترسره کړي دي. د ځوانانو په مینځ کې د بیکارۍ د لوړې کچې په غبرګون کې د ځوانانو لپاره د اقتصادي پیاوړتیا یو مرکز جوړ شوی څو له ښوونځیو فارغو ځوانانو ته د عملي کارونو په برخه کې روزنې ورکړي او له هغوی سره د دندو په موندلو کې مرسته وکړي. دې ته ورته طرحه لویانو ته د غیرې رسمي زده کړو د هڅولو او

د عاید زیږوونکو فعالیتونو له لارې له اقتصادي اړخه د ښځو د پیاوړتیا له لارې د ماشومانو د کار  د کچې را ټیټولو په موخه رامینځ ته شوه. دې چارې کورنیو ته د عاید نوي جریانونه را مینځ ته کړي دي او ډاډمن شوي چې ماشون یې زده کړو ته لاسرسي درلودلی شي.

په بلخ کې د ښوونځیو شمیر زیات شوی او د جنسیتي پیغورونو سره سره ښوونځي ته د تلوونکو نجونو او میرمنو په شمیر کې زیاتوالی راغلی دی.

په سمنګان کې ډیرو کلیو ته د بریښنا د شبکې په غځیدو سره د خلکو، مدني ټولنې د سازمانونو او د بریښنا رسولو د اداری تر مینځ  مثبتې اړیکې او همکاری رامینځ ته شوي دي.

په سرپل کې د ښځو پر وړاندې فزیکي تاوتریخوالي ته د پام اړولو او د ولایت په کچه معلولینو سره د مرستې په موخه په رسنیزو ګروپونو کې  د ګډون له لارې د مدني ټولنې د فعالینو ونډه خورا پیاوړې شوې ده.

۱. شمال ختیځ

(بدخشان، بغلان، کندز، تخار)

لنډیز

په شمال ختیځ کې په څلورو ولایتي فوکس ګروپونو کې ۱۱۳ کسانو(۵۹ نارینه او ۵۴ میرمنې) برخه اخیستې وه. د برخه والو په وړاندې ستره ننګونه د تمویل نه شتون (۷۳ سلنه) و چې له امله یې د مدني ټولنې د سازمانونو کارکوونکو ته د دولتي کارکوونکو د معاشونو له نیمایي څخه ټیټ معاشونه ورکول کیږي، له کارکوونکو سره لنډ مهاله تړونونه کیږي یا ډیر کارکوونکي خپل کارونه پریږدي. د برخه والو (۶۵ سلنې) ویل چې د نا امنی له کبله په سیمه کې د کورنیو او بهیرنیو پانګونو د کمیدو، د نړیوالو غیرې حکومتي سازمانونو د فعالیتونو د کمیدو او په سخت دریځو ډلو کې د ځوانانو په ګومارنو کې د زیاتیدو په ګډون یې پراخې ستونزې رامینځ ته کړې دي. د لومړنیو زده کړو د آسانتیاوو نه شتون او له معیارونو ټیټو روزنو او سرچینو د بې کیفیته نصاب او په شرایطو د نه برابر ښوونکو د ګومارنې لامل شوی دی، که څه هم چې ثانوي زده کړې، په لومړې سر په بغلان ولایت کې مثبتې اغیزې درلودلې دي. د فوکس ګروپ د برخه والو (۵۰ سلنې) د یوې ننګونې په توګه د مدني ټولنې د ارزښت په اړه د ټیټې پوهې یادونه وکړه په دې معنی چې د مدني ټولنې سازمانونه د حکومت او خلکو تر مینځ د ارتباط د رامینځ ته کیدو جوګه نه دي. داسې انګیرل کیږي چې حکومت د فساد سره د مبارزې لپاره لږ ژمن دی او د سولې ولایتي کمیټې د سولې د خبرو په برخه کې بې ګټې دي.

په سیمه کې بشري او پراختیایی وضعیت

په شمال ختیځ کې کرهنه د معیشت لومړنی سرچینه  وګڼل شوه او برخه وال په دې باور وو چې د کرهنې د پراختیا په برخه کې د نوښتونو کمې ده. د اوبو د مدیریت او ویش کمزوري سیستمونه، د اوبولګونې ناکاره سیستمونو او ناکاره ولایتي زیربناوو مارکیټونو ته د ویش لپاره د توکو د تولید په برخه کې د خلکو وړتیا اغیزمنه کړې ده.

برخه والو د ولایتي روغتیا، پوهنې او زیربنا د وضعیت په اړه خپلې اندیښنې څرګندې او په سیمه ایزه حکومتولی کې د روڼتیا نه شتون او بې کیفیته خدمتونه یې په دې برخه کې د مرسته کوونکو فکتورونو په توګه یاد کړل. د نا امنی له امله نړیوالو غیر حکومتي سازمانونو خپل فعالیتونه درولي دي، چې دا په ولسوالیو او لیرې پرتو سیمو کې د روغتیایي آسانتیاوو او د اړوندو حکومتي ادارو د څارنې د نه شتون لامل شوی دی. سربیره پر دی، په دې سیمه کې ګڼ شمیر داخلي بیځایه شوي وګړي بیلا بیلو مرستو ته اړتیا لري ( خوراکي او غیرخوراکي مرستې).  که څه هم چې د افغانستان حکومت او نړیوال غیرې حکومتي سازمانونه مرستې وړاندې کوي خو د داخلي بیځایه شوو وګړو د ارزونې لپاره د اغیزمنو میکانیزمونو او اوږد مهالو ستراتیژیو د نه شتون له امله د دې مرستو ویش نابرابر دی.

مهم سیمه ایز لومړیتوبونه

- د ولایتي معیشت لپاره د کرهني پر سمون پیاوړی تمرکز. په دې کې د اوبو د مدیریت او ساتنې په برخه کې د سیمه ایزو ټولنو روزنه، او د حاصلاتو له ودې سره د مرستې لپاره د وسایلو او تجهیزاتو( ټرکټرونه، د یوې ماشینونه) شامل دي.
- د ملي وحدت حکومت او بسپنه ورکوونکي باید د زیربنا او پوهنې په برخه کې پر بشري سرچینو پانګونه وکړي ځکه چې دا د جندر په اړه د ناوړه انګیرنو د له مینځه وړلو او د ملي یووالي د هڅونې وسیلې دي.
- د ملي وحدت حکومت او سیمه ایزې ټولنې باید د ولایتي امنیت د ښه کولو او بیا پخلاینې لپاره لارې چارې ولټوي.
- په پراختیایي پروګرامونو او بهیرونو کې د مدني ټولنې سیمه ایزو سازمانونو ته د زیاتې ښکیلتیا لپاره د لارې هوارول.
- د ټولنیزو او اقتصادي پروګرامونو د انډول، له فساد او غیرقانوني فعالیتونو لکه د کانونو غیرې مجازو کیندنو سره د مبارزې لپاره د زیربنایي پروګرامونو تنظیمول. ( په کندز کې د هستوګنیزو پروګرامونو لپاره د کرهنیزو ځمکو د کارونې لپاره مخ په زیاتیدو لیوالتیا موجوده ده چې دا د بیکارۍ د زیاتیدو لامل شوی دی).

د ستونزو په وړاندې د بریاوو بیلګې

په تخار کې د فوکس ګروپ په وینا خلک د حکومت له خوا د ولسي تړون د پروګرام د پلي کیدو له لارې د ځوانانو د ګومارنې د کچې د لوړیدو له امله مننددوی دي. د سواد د زده کړې پروګرامونو په ټولنه کې د عامو موضوعګانو په اړه د خلکو د پوهاوي په لوړولو کې یو مهم رول لوبولی او د مدني ټولنې سازمانونو په ګومارنې، سیاسي، کلتوري او ټولنیز ژوند کې د ښځو د ملاتړ لپاره یې مثبت ګامونه اخیستي دي.

په کندز کې د (RET) د کوچنیو کارو بارونو پروګرام ګڼ شمیر میرمنو ته نوي مهارتونه ( ګنډل) او وسایل چمتو کړي دي تر څو د دوی کورنیو ته مالي ثبات او خپلواکي راولي.

په بغلان کې د برخه والو په وینا د ولسي تړون پروګرام د ځوانانو لپاره دندې زیاتې کړي او د سولې د رامینځ ته کیدو لپاره سیمه ایزو هڅو پایلې ورکړې او نا امني کمه شوې ده.

د بدخشان فوکس ګروپ د ځوانانو او میرمنو د مالي خپلواکۍ او خپلو کورنیو سره د مرستو لپاره د لازمو وړتیاوو د ترلاسه کولو لپاره د 'روند باز' او 'سادات د خیر ښیګڼې سازمان' د پروګرامونو ستاینه کړې ده. د 'سولې کاروان' رامینځ ته کیدل د سیمه ایزو زورواکو تر مینځ د سولې او مینځګړیتوب د هڅونې په برخه کې ډیر فعال دی.

۵. لویدیځ

( بادغیس، غور، نیمروز، فراه، هرات)

لنډیز

د لویدیځې سیمې په ۵ ولایتي فوکس ګروپونو کې ۱۶۴ کسانو ( ۹۴ نارینه او ۷۰ میرمنې) برخه اخیستې وه.

د برخه والو په وړاندې، په ځانګړې ډول د فراه په ښار کې چیرې چې بلواګرو په ۲۰۱۸ کال کې څو ځلې د ښار د کنټرول لپاره سیالي کړې ده، سترې ننګونې په ګډه د بودیجې کمښت او د نا امنۍ زیاتیدل وو. د مدني ټولنې د ارزښت په اړه ټیټ پوهاوی د یوې ننګونې په توګه یاد شو دا په دې معنې چې د مدني ټولنې سازمانونه په دې نه دي توانیدلي چې د خلکو او حکومت تر مینځ واټن کم او د سولې په نوښتونو کې ملاتړ کوونکی رول ولوبوي. په فراه کې د مدني ټولنې یوه فعال د جګړې له سیمو د بند پاتې شوي خلکو لپاره د خوندي ځایونو او ترانسپورټ د چمتو کولو له لارې له خلکو د ملاتړ یوه ستره میرانه او مدني مسؤولیت یې وښودلو.

په سیمه کې بشري او پراختیایي وضعیت

د فوکس ګروپ په ترڅ کې د طالبانو د پیاوړتیا او په ملي او سیمه ایزه کچه آن یوې لنډ مهالې سولې ته د رسیدو لپاره د سولې د عالي شورا د بې کفایتۍ په اړه اندیښنې خورا پیاوړې وې. له بلواګرۍ د سیمه ایزو لوبغاړو د سیاسي او پوځي ملاتړ منفي درک دا احساس یې نور هم پیاوړی کولو. د نا امنۍ او اقلیمي بدلون ( وچکالی) په پایله کې د داخلي بیځایه شوو وګړو شمیر په دوامداره توګه د یوې نه بې ثباته پراختیا لر لید لا پسې خرابوي. په هرات کې برخه وال په دې آند وو چې داخلي بیځایه شوو لپاره د معیشت د پروګرامونو نشتوالی او لومړنیو بشري اړتیاوو ته د هغوی د نه لاسرسی له امله وضعیت ناوړه شوی دی. سر

بیره پر دي، د بیوزلۍ د زیاتیدو له امله د داخلي بیځایه شوو او کوربه ټولنو تر منځ ټولنیزې ترینګلتیاوې رامنځ ته شوې دي، روغتیایي آسانتیاوو ته د خلکو لاسرسي کمه ده له دې امله زیات ماشومان او زیانمنونکي خلک سوالګرۍ ته اړ شوي دي.

د اړوندو وزارتونو او ولایتي ریاستونو تر منځ د همغږۍ نه شتون د بودیجې د کمزورې مدیریت لامل شوی چې پر زیربنایي پروژو یې منفي اغیزې کړي دي. دا تأیید شوه چې له ۲۰۱۶ کال راهیسې په هرات کې د سلما بند، په فراه کې د بخش آباد او په نیمروز کې د کمال خان د بندونو د جوړولو له لارې د زیربنا په برخه کې لږ څه پرمختګ شوی دی. سر بیره پر دې په فراه کې یو نوی هوایي ډګر د جوړیدو په حال کې دی، لکه څنګه چې حکومت لارې جوړوي، سیمه ایز کارګران دندې مومي، که څه هم لنډ مهالې دي. د ټاپي پروژې هم د لویدیځې سیمې لپاره د زیاتې اقتصادي ودې او دندو رامنځ ته کیدو د فرصتونو ژمنې کړي دي. له دې سره د فساد دوام او په سیمه ایزو ادارو کې د وړتیا خلاف سیاسي ګومارنو د پروژو کیفیت یې را ټیټ کړی دی. دې په خپل وار سره د غور او بادغیس په ولایتونو کې له ډیر بد وضعیت درلودونکي سړکونو جوړولو او په فراه کې د لوړې بیې( یو کیلو واټ/ ۳۰ افغانۍ ) عامه بریښنا پروګرامونو له وړاندې کولو سره مرسته کړې ده ( زیاتره خلک په شخصي جنریټرونو تکیه کوي). دا ټول د دې لامل شوی چې برخه وال په دې پروژو کې د فساد سره مبارزې لپاره د حکومت سیاسي ارادې ته د شک په سترګه وګوري. خلکو هم هڅه کړې څو د څارنې او ارزونې د کوچنیو سیمه ایزو پروژو له لارې مالکیت په خپل لاس کې واخلي او په دې توګه یواځې لاسرسي رد کړي.
په حکومتولۍ کې فساد ښوونیز نظام ته هم لاره موندلې، ویل کیږي چې پیاوړې سیاسي څیرې د خپلو شخصي ګټو لپاره په حکومتي پریکړو کې لاسوهنه کوي. یوه بیلګه یې هغه خلکو ته په بهر کې د زده کړې د سکالرشیپونه ورکړه وه چې اړیکې او پیسې لري څو ' ساتوونکو' ته بډې ورکړي. پوهنې ته لاسرسي د بیشمیرو ننګونو له امله زیانمنه شوې، پوهنې ته د نړیوالو بسپنه ورکوونکو مرستې کمې شوي دي، د نا امنۍ له امله ښوونځي تړل شوي (د غور په ولایت کې کابو ۵۰ سلنه د نجونو ښوونځي تړل شوي دي)، او ځوانان په تیره بیا نجونې زده کړو ته لاسرسي نه لري. زیاتره کړیالان په پوهنتونو کې د تدریس د کمزورو معیارونو، لوړ فیس او په ملي کچه د ناوړه مالي وضعیت له امله د زده کړې دوام ستونزمن ګڼي. د بیلګې په توګه په غور کې، خصوصي پوهنتونونه نه شته، او په فراه کې نجونې لوړو زده کړو ته لاسرسي نه لري د نا امنۍ او ځورنې له ویرې نباید چې له دوی سره یو محرم وي.
په لویدیځو ولایتونو کې د ښځو د حقونو د منلو کچه سره توپیر لري. په هرات کې برخه والو تأیید کړه چې د مثبتو جوړښتي پرمختګونو لکه د هغه قانون تصویب چې پر لارو د ښځو ځورل جرم ګڼي، مثبت بدلون راوستی دی. له تاوتریخوالي د ژوغورل شوو میرمنو لپاره د وړیا مشورو د ورکړې لپاره نوښتونه پر لاره دي، او غیرې حکومتي سازمانونه هغه پروژې پر مخ بیایي چې له مخې به یې په ټولنه کې د ښځو سیاسي او ټولنیز ګډون پیاوړی شي. له بده مرغه، دا نوښتونه د بودیجې د کمښت له امله له ستونزو سره مخ دي او په پارلماني ټاکنو کې له ښځینه نوماندانو ډیر لږ ملاتړ شوی دی. همدا راز لا تر اوسه محکمو په خپلو تصمیم نیونو کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې قانون یې له دې امله چې یو تقنیني فرمان دی په بشپړه توګه په پام کې نه دی نیولی. په بادغیس کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی زیات شوی او منفي ټولنیز نورمونه په دوامداره توګه په ټولنه کې د ښځو د پرمختګ مخه نیسي.

<u>مهم سیمه ایز لومړیتوبونه</u>

د ملي وحدت حکومت باید فساد له مینځه یوسي. د دې د له مینځ وړلو لپاره ګومارنې باید د وړتیا او پوهې پر بنسټ وي، معلوماتو د لاسرسۍ قانون باید تنفیذ شي، باید د زیربنا او کانونو د کیدنې د پروژو د تړونونو څارنه وشي او له خلکو سره شریک شي، ولایتي ادارې باید د ولایتي او ولسوالیو د پراختیایي پلانونو د مالکیت د تر لاسه کولو په موخه پیاوړې شي ( د مرکز له څار او دستور پرته).

نړیوال بسپنه ورکوونکي باید د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ته د درناوي په موخه پر ملي وحدت حکومت او د سیمې پر هیوادونو فشار ډیر کړي. د تاوتریخوالي او سخت دریځۍ د له مینځه وړلو په موخه دې پر ټولنیزو، کلتوري او ښوونیزو پروګرامونو ټینګار زیات شي. مدني ټولنه کولای شي د مدني ټولنې د سازمانونو له ملي شبکې سره د همغږو فعالیتونو او د اتباعو د حقونو او مسؤلیتونو په اړه د پوهاوي د زیاتولو پروګرامونو له لارې خپل رول ولوبوي. دا به د مدني ټولنې سازمانونه وهڅوي څو له خپلو ټولنو سره نږدې اړیکې رامینځ ته، مالي مرستې راغونډې او پر ملي وحدت حکومت فشار راوړي څوهغه قوانین چې د بشري حقونو او عدالت ساتنه کوي تصویب کړي.

پر کرهڼه او زیربنا د پانګونې له لارې دې له معیشتونو ملاتړ وشي. د بندونو روانې پروژې باید د لومړیتوبونو په توګه په پام کې ونیول شي او د تړونونو قوانین دې تصویب او تړونونه دې د وړتیا پر بنسټ ورکړل شي او هغه تړون کوونکي دې جریمه شي چې تړونونه نه بشپړوي. دا به د دندو فرصتونو ته لاسرسي تضمین او د اوبو تلپاتي سیستمونه به وده وکړي. د کډوالۍ د مخنیوي لپاره باید کروندګر سبسایډي ( د حکومت مالي مرستې) تر لاسه کړي او د اصلاح شوو تخمونو په کارونې دې د تولید د نوي کړنلارو نه ملاتړ وشي څو د اوبو د ټیټې کچې په وړاندې مقاومت وشي.

د ستونزو په وړاندې د بریا بېلګې

په فراه کې، د ۲۰۱۸ کال په اوړي کې هغه وخت چې طالبانو څو بریدونه وکړل، د مدني ټولنې یوه فعال د جګړې له سیمو د بند پاتې شوو خلکو لپاره د خوندي ځایونو او ترانسپورټ په چمتو کولو یې له ځانه ستره میړانه وښودله.

په غور کې، برخه والو ادعا وکړه چې ولایتي چارواکو د مدني ټولنې د فعالینو څارنیز رول تأییدوي. د بېلګې په توګه، والي د مدني ټولنې پر سازمانونو غږ وکړ څو د سیمه ایز حکومت فعالیتونه وڅاري او د کارکوونکو کړنې دې یو ځل وارزوي.

۱. ختیځ

( کونړ، نورستان، لغمان، ننګرهار)

لنډیز

په ختیځه سیمه کې په څلورو ولایتي فوکس ګروپونو کې ۹۷ کسانو (۷۹ نارینه او ۱۸ میرمنې) برخه اخیستې وه.

دواړه د بودیجې کمښت او زیاته نا امني په ګډه د برخه والو پر وړاندې تر ټولو مهمې ستونزې وې، چې د خلکو د ملاتړ لپاره یې د مدني ټولنې لاسرسي محدوده کړې ده. په کونړ کې، برخه والو نا امني یې د داخلي بېځایه کېدو او بیوزلۍ لومړنی هڅوونکی لامل وباله. په ټولو څلورو ولایتونو کې برخه والو همکاري او بیا پخلاینه یې د سولې هڅوونکي وګڼل او یوازې هغه وخت د پوهاوي د لوړولو فعالیتونه او د سولې را تګ به یقیني شي چې پراخ بنسټیه وي (د ښځو ګډون)، (د پېغور په توګه د دې سیمې په فوکس ګروپونو کې د ښځو نسبتاً پیکه ونډه یاده شوه). سر بېره پر دې، په زېربنا او پوهنه کې محدودیتونه د نا امنۍ او فساد له کبله لاپسې زیات شوي دي. برخه والو د ښوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو له لارې په ښوونیز نظام کې د اصلاحاتو او کلیوالو سیمو ته د لاسرسی او مسلکي او کرهنیز روزنیزو پروګرامو د وړاندې کولو لپاره د زېربنایي پروژو د تنظیم غوښتنه وکړه.

د مدني ټولنې د ارزښت په اړه ټېټ پوهاوي یوه ننګونه رامینځ ته کړې ده په دې معنی چې د مدني ټولنې سازمانونه د په خپله تنظیم کېدونکو پروژو په برخه کې له خلکو سره د مرستې لپاره، فساد ته د رسیدګی او د ښوونیز نظام د پیاوړي کولو په برخه کې خپلې موخې نه دي عملي کړي. په دې سیمه کې سره له دې چې د بریا ډېرې کیسې وې چې د خلکو د ستونزو په را کمولو کې د مدني ټولنې د سازمانونو پر وړتیا یې رڼا اچوله خو د فوکس ګروپ معلومات محدود وو.
د سیمې په کچه دمدني ټولنې سازمانونه په دې باور وو چې دوی په خپلو ټولنو کې د زیانمنوونکو خلکو په ملاتړ کې اغیزمن وو. د روړدو کسانو د ملاتړ پروګرامونو د مدني ټولنې سازمانونه د دې جوګه کړل څو له خپلو ګټه اخیستوونکو، ټولنو، او حکومت تر مینځ باور او د یووالي یو احساس را مینځ ته کړي. د دې په پایله کې په کونړ کې په نشه ای توکو تړاو را کم او زیانمنوونکو خلکو او ټولنو ته د خدمتونو د وړاندې کوونکي په توګه حکومت د خپل رول په هکله ډېر پوهاوی تر لاسه کړی دی. په حکومت کې د ښځو رول ننګول شوی دی او ډېرې ښځې د ملکي دندو د تر لاسه کولو لپاره هڅول کیږي.

په لغمان کې د یو نوي پروګرام له لارې د فزیکي او دماغي روغتیا د فعالیت په توګه د کریکټ او سپورټ د تورنمنټونو د وړاندې کولو له امله په نشه اي توکو تړاو کم شوی دی. د سرحدونو او قبایلو د ریاست سره د کار له لارې د مدني ټولنې سازمانونو د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی یې را کم کړی او خلک یې د 'ښوونه د ټولو لپاره ' په وړاندې خورا حساس کړي دي. ورته بریا په نورستان او ننګرهار کې هم لیدل کیږي چیرې چې خلکو پر یو میکانیزم سره هوکړه کړې چې د یوه مدني بنسټ د رامینځ ته کېدو له لارې به خپل سیمه ایز چارواکي حساب وروکوونکي ساتي. په پای کې د مدني ټولنې د سازمانونو، او حکومت اړیکې، مخامخ ناستو ته لاسرسي ښه شوې ده او د ځوانانو لپاره ۲۵ ښوونیز مرکزونه هم رامینځ ته شوي دي.

۷. غرنیزه مرکزي سیمه

( بامیان، دایکندي)

لنډیز

په مرکزي غرنیزو سیمو کې ۸۵ کسانو (۲۹ نارینه او ۲۹ میرمنې) په دوه ولایتي فوکس ګروپونو کې برخه اخیستې وه. په بامیان کې د برخه والو دوه پر دریمه برخه نارینه وه، په داسې حال کې چې په دایکندي کې بیا دوه پر دریمه برخه ښځینه وه. په دې سیمه کې بودیجوي ستونزې د مدني ټولنې د سازمانونو د کار پر وړاندې لومړنی اندیښنه وه. په زړه پورې دا وه چې د بامیان ۶۴ سلنه برخه وال په دې باور وو چې د کار کوونکو خوندیتوب د امنیت په پرتله یې د مدني ټولنې د سازمانونو فعالیتونه

ډېر اغیزمن کړي دي. په دایکندي کې برعکس له نیمايي زیات برخه وال په دې باور وو چې امنیت او د ټولنې درک د فعالیتونو په ترسره کولو کې د دوی پر وړتیا اغیزه کړې ده. او د کارکوونکو ساتل ډېر کم د اندېښنې وړ وو.

## په سیمه کې بشري او پراختیایي وضعیت

سیمه ایزه حکومتولي په دې سیمو کې د خدمتونو د وړاندې کولو، نا امنی او مخ په زیاتیدو بیوزلی یوه مهمه اندېښنه وګڼل شوه. همدا راز و ویل شول چې د مرکزي حکومت له خوا کمزوري څار د سیمه ایزې اداري پر خدمتونو یې د خلکو باور کم کړی دی. په دایکندي کې دا احساس موجود و چې سیمه ایزه اداره د روڼتیا، ځواب ورکوني، عدالت او معلوماتو ته د لاسرسی د ښه کیدو په برخه کې پاتې راغلي ده. د مرکزي حکومت له کمزوري څار او د افغان ملي پوځ د محدود حضور سره سره یوه عمومي اجماع دا وه چې پرته له هغو سیمو چې ستراتیژیک اهمیت لري لکه ولایتي سرحدونه او لویه لاره په سیمه کې یو سوله ایز وضعیت موجود دی.

د مسلکي او روزل شوو کارکوونکو د شمیر د کمښت له کبله روغتیا او پوهنه پر معیارونو برابره نه ده، د ماشومانو خوارځواکي او د میندو د مړینې کچه لوړه ده او د اټکل له مخې ۲۹۰۰۰ ماشومان زده کړې ته لاسرسي نه لري. همدا راز یادونه وشوه چې سره له دې چې د نصاب او سرچینو کیفیت لا هم ټیټ دی خو د ښوونیزو مرکزونو شمیر زیات شوی دی. په دایکندي کې د نجونو د زده کړو په وړاندې د مخالفو نظرونو د بدلون په موخه د ټولنې له هغو ګروپونو سره چې د نجونو د زده کړو مخالف دي په ګډه کار کول یوه بریا وه، چې په پای کې ښوونځي ته د تلوونکو نجونو په شمیر کې زیاتوالی راغلی، خو ستونزې لا هم شته او په بل ګام کې به له حکومت سره مشورې وشي.

وچکالي د سیمې په کچه یوه ستره اندېښنه ده او باور دا دی چې وضعیت په تیرو دری کلونو کې ډېر خراب شوی دی. په کانالونو، چینو او سیندونو کې د اوبو د زیرمو کمیدو کرهنیزو حاصلاتو او څارویو ته زیانونه اړولي او په دې توګه د معیشتونو نه خوندیتوب یې زیات کړی دی. په پایله کې یې داخلي بیځایه کیدل عام او بیځایه شوي خلک له فزیکي ستونزو او بنسټیزو اړتیاوو له کمښت سره مخ دي او د ژوغورنې لپاره بیرنیو مرستو ته اړتیا لري. سربیره پردې، د برخه والو په آند مرکزي حکومت د بیځایه شوو د حقونو او ځمکې ته د لاسرسي په برخه کې ډېرڅه کولای شي. د بیلګې په توګه په دایکندي کې ادعا وشوه چې ۱۸۰۰۰ خلک بیځایه شوي وو او د مرکزي حکومت په مرستو کې یواځې ۷۰۰ ټوټې هستوګنیزې ځمکې ته لاسرسي او د لنډ مهالو خدمتونو وړاندې کول وو. سر بیره پر دې، وچکالی د کرهنې موجود ستونزمن وضعیت یې لا پسې خراب کړی دی. نا کافي روزنو او سبسایډیو کمزورو کرهنیزو کړنلارو او محدودو وترینري خدمتونو او مناسبو وسایلو ته لاره هواره کړې ده.

## مهم سیمه ایز لومړیتوبونه

- پوهنه ( د لویانو لپاره د غیرې رسمي زده کړو په ګډون)
- د چاپیریال زیربنا ( د اوبو لګوني سیستمونه، څا ګاني، زیرمې)
- زیربنا( د لارو او پلونو د وضعیت ښه کول)
- توریزم ( د توریزم په برخه کې پانګونه)

## د ستونز په وړاندی د بریا بیلګې

برخه والو د مدني ټولنې وروستۍ بریاوې یادې کړې چې په کې: د بامیان د ځوانانو د فیډراسیون رامینځ ته کیدل شامل دي. د ځوانانو په ملاتړ د " غیر قانوني کډوالی – تحت البحري ماشومان" په نامه یو تیاتر ټولنو ته ځي او د یوې ننداري له لارې د بیلا بیلو موضوعاتو په اړه خلکو ته پوهاوی ورکوي.

د بامیان د لیکوالو او شاعرانو له خوا د کیسو ویلو او کتاب لوستلو د فعالیتونو د هڅوني په موخه یو کلتوري مرکز رامینځته شوی دی. یو عامه کتابتون چې د بسپنه شوو کتابونو په مټ نوموړی مرکز بشپړوي.

The displacement caused by these two factors means millions of people are forced to try and make a life in an area where long-time local residents may see the newly-arrived IDPs as interlopers who are syphoning off precious resources, jobs and money. This sense of resentment between the residents and IDPs in a given area exacerbates over time, which leads to major social challenges and friction for IDPs who often left everything behind in order to seek refuge from war or environmental disaster. This hostility and friction can be manifested in several ways ranging from: denial of services, verbal prejudice and even violence targeted towards IDPs. This can in turn lead to increasing rates of poverty, as the economy cannot sustain both the area's residents and the arriving displaced people without proper assistance from the government and its partner organisations.

This mix of poverty, hostility and violence has been known to lead to devastating consequences. For IDPs who have returned from a foreign nation arriving in a host

---

[18] Disability in Afghanistan: Taking a capabilities approach to look at research challenges and policy recommendations. JF Trani et al. University of Central London, 2005

[19] "Most of 800,000 people with disabilities in Afghanistan are uneducated and unemployed" Khaama Press, 2013.

[20] "Afghanistan - Eye care" World Health Organisation, 2018. http://www.emro.who.int/afg/programmes/eye-care.html

[21] "Quarterly report on the protection of civilians in armed conflict: 1 January to 30 September 2018" United Nations Assistance Mission in Afghanistan, 2018. https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_protection_of_civilians_in_armed_conflict_3rd_quarter_report_2018_10_oct.pdf

[22] "Afghanistan Drought - Apr 2018" Releifweb, 2018. https://reliefweb.int/disaster/dr-2018-000052-afg

[23] "Drought grips large parts of Afghanistan" United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs, 2018. https://docs.google.com/document/d/19IUcz2SY-OCXt8lwtquGu6iNu7_S7CY9uuzdj3d8ZaM/edit

[24] "Millions of Afghans face risks of drought related displacement" Norwegian Refugee Council, 2018. https://www.nrc.no/news/2018/september/millions-of-afghans-face-risks-of-drought-related-displacement/

community often means leaving a foreign nation where you are treated with disrespect and derision to arrive in an area of their own country where they, and their children, must face similar prejudice. Essentially replacing one prejudice for another.

Representatives of several provinces said they had documented cases of IDPs (and disabled persons) committing suicide out of frustration with the hardships they must endure. There is also the risk that those who are excluded from social life and economic opportunities may be lured by armed opposition groups, like the Taliban, who will use someone's feeling of inadequacy and frustration at the lack of attention from their adopted communities and the government to encourage them to join in their movement. In the past, the Taliban have been accused[25] of using people with disabilities to conduct suicide operations in Afghanistan.

**Recommendations**

- **A proper, in-depth survey of the disabled population of Afghanistan must be conducted.** These figures should be further sub-divided into capturing sensory and physical disabilities. Doing so would allow the government and civil society organisations to better tailor their programmes to the specific needs of people suffering with each form of disability throughout the country. Such a survey would be the first step in implementing stronger programmes to address the challenges faced by people with disabilities. However, this should not delay the provision of services to address the immediate needs of persons with disabilities.
- **The government, in coordination with civil society organisations, must define and develop long-term and operational programmes for their social protection as well as proper programmes for livelihood development, which has eluded far too many people in the nation.**
- **The human rights environment is shrinking, not only for vulnerable groups, and all stakeholders should support civil society by allowing them space to raise these issues.**
- **Human rights issues are still a major concern and as security remains fragile, human rights defenders must be protected.**
- **The international community should ensure their focus, which is primarily on security at the moment, does mean human rights gets pushed to the bottom of their agenda.**

## 7. Strengthening and developing the role of civil society

As a bridge between local communities and the government, a healthy and robust civil society is an important part of any growing democracy. Over the last 17 years, civil society has grown at exponential rates in Afghanistan. There are currently more than 10,000 unions, foundations, organisations, local shuras and youth movements that comprise the civil society of Afghanistan.

However, there are still several hurdles to overcome before civil society organisations can be given the space to close the gaps between the people and the government and to account for any shortfalls of the state.

First and foremost is the issue of corruption, which representatives from the provinces and Kabul all feel has increased over the last five years. When coupled with a decrease in a sense of moral responsibility, this has made simple operational matters extremely difficult for civil society organisation. As stated earlier, civil society organisations feel too much of their time is spent on bureaucratic matters and dealing with issues of bribery and corruption within

[25] "Welcome to suicide bomber rehab" Vocativ, 2014
https://www.vocativ.com/world/afghanistan-world/suicide-bomber/index.html

the government. This time and resources could be better spent addressing the needs of the communities they serve.

Security is of course a major issue for civil society organisation. It is in many ways the biggest impediment to their work. The security challenges facing civil society in Afghanistan go beyond armed opposition groups like the Taliban and Daesh — though both have claimed responsibility for attacks targeting civil society organisations or conducted in proximity to civil society offices, workers and projects — to include the threat of abductions, threats and intimidation by other groups.

There is also a sense that government officials are interfering in civil society work, which is in direct contradiction to the role that civil society is supposed to play as an entirely separate sphere. Though civil society organisations were appreciative of President Ghani's recent[26] meeting civil society representatives to discuss the peace process, such consultations tend to be the exception, not the norm, when it comes to government decisions that would impact the lives of all Afghans.

Additionally, civil society organisations say that despite the government's commitment to free expression and access to information, they often find it difficult to gain reliable access to information from government officials. This is key because information is the first step for civil society intervention in regard to monitoring the government and its ability to deliver on promises and commitments made including implementation of laws.

With a lack of support and funding, many civil society organisations feel as if they are existing in an unsustainable hand-to-mouth situation that leaves little room for development or advancement. As a result, the representatives said the general public's knowledge about the role of civil society has also greatly decreased.

Despite great strides towards improving the institutional capacity of civil society organisations, there is still a long way to go in terms of bringing such organisations to full capacity. As such, civil society organisations strongly recommended the government and international community make more serious efforts and intensive financial investments into the capacity building of civil society organisations in Afghanistan.

**Recommendations:**

- **Greater collaboration between the Afghan government, the international community and local civil society groups is essential.**
- **Development and support of mechanisms to improve trust and accountability within in civil society organisations is needed.**
- **Development of a specific national priority programme for building a vibrant and sustainable civil society.**
- **Develop and support systems, mechanisms and policies to ensure proactive promotion of public, private and civil society partnership in Afghanistan** (given the gradual reduction in international aid from past decade) and coordination among civil society organisations and the government.
- **Ensure there is a formal mechanism for civil society to be fully consulted in the development of laws and that the government push for a systematic implementation of laws affecting civic space.**

[26] "Peace a national consensus, President Ghani to civil society members" BNA Bakhtar news, 2018 http://bakhtarnews.com.af/eng/politics/item/35726-peace-a-national-consensus-president-ghani-to-civil-society-members.html

**۴ ضمیمه: د مدني ټولنې ترکیبي مقاله**

د افغانستان په اړه د جینوا د کنفرانس لپاره

د افغان او نړیوالې مدني ټولنې د مقالو ترکیب

د ۲۰۱۸ کال د نوامبر د میاشتې ۲۷ او ۲۸ نېټه

لنډیز

دغه سند د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس لپاره د مدني ټولنې د دریځ د یو لړ مقالو ترکیب وړاندې کوي. د مدني ټولنې نظریات په اوه برخو کې را لنډ شوي دي: (۱) سوله او امن؛ (۲) د اتباعو حقونه او خوندیتوب؛ (۳) بیځایه کېدل او ادغام؛ (۴) حکومتولي او فساد؛ (۵) اقتصاد؛ (۶) په روغتیا، پوهنه، کرهنه او معیشت کې پراختیا؛ او (۷) د کار یوه نوې لاره:

د بشري ـ پراختیا ـ سولې اړیکې.

هغو دوه اړخیزو ننګونو ته په پام سره چې د افغانستان حکومت ورسره مخ دی، نړیواله ټولنه او مدني ټولنه د افغانستان د پراختیا او خلکو د سوکالۍ د ښه والي لپاره خپلو ګډو موخو ته د رسیدو لپاره، لاندیني هر اړخیز وړاندیزونه د افغان او نړیوالې مدني ټولنې له خوا وړاندې شوي دي:

- د افغانستان حکومت باید د افغانستان د پراختیا په برخه کې د افغان او نړیوالې مدني ټولنې ارزښت تأیید او په دې برخه د مدني ټولنې سازمانونه د دوه اړخیز درناوي، همکارۍ او ملاتړ په روحیه ښکیل کړي؛
- د افغانستان حکومت باید هغو نړیوالو قوانینو او تړونونو ته چې په کې داخل دی ژمن پاتې شي او د تصویب شوو قوانینو او رسمي پالیسیو د بشپړ پلي کیدو لپاره هڅه وکړي؛
- بسپنه ورکوونکي باید له افغانستان سره اوږد مهالې مرستې وکړي، چې دا به د افغانستان حکومت له لوري د اصلاحاتو پلي کیدو او لنډ مهالو پایلو ته په رسیدو پورې تړلې وي؛ او
- ټول لوبغاړي باید د بشري ـ پراختیا- سولې اړیکې درک کړي؛ د ګډو، اړتیا بنسټو او د خلکو په مرکزیت پروګرامونو د پلي کولو او هڅونې څخه دې ملاتړ وکړي.

لنډیزونه

| | |
|---|---|
| ANPDF | د افغانستان د سولې او پراختیا ملي چوکاټ |
| ANSF | افغان ملي امنیتي ځواکونه |
| BAAG | د بریتانیې او آیرلند سازمانونو د افغانستان ګروپ |
| BCA | د افغانستان په اړه د براسلز کنفرانس |
| CSWC | د مدني ټولنې کاري کمیټه |
| DiRec | د بیځایه کیدو او بیا راستنیدو اجرائیه کمیټه |
| DoRR | د کډوالو او بیرته راستنیدونکو ریاست |
| DRR | د ناورین د خطر راټیټول |
| EVAW | د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له مینځه وړل |
| GCA | د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس |
| GMAF | د جینوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ (۲۰۱۸) |
| GoA | د افغانستان حکومت |

| | |
|---|---|
| IDP | داخلي بیځایه شوی وګړی |
| IWM | د اوبو د خوړونو بشپړ مدیریت |
| NAP 1325 | د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ اعلامیې لپاره د عمل ملي پلان |
| NPP | د ملي لومړیتوب پروګرام |
| PTSD | له روحي صدماتو وروسته تشوشات |
| SMAF | د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ (۲۰۱۵) له لارې پر ځان ویسا، د پایلو سره په SMART SMAF (۲۰۱۶) بدل شوی دی |
| SSAR | د افغان کډوالو لپاره د حل لارو تګلاره |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندوی ماموریت |
| UNOCHA | د بشري چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو اداره |
| UNHCR | د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري |

۱. موخه

دغه مقاله د افغانستان په اړه د جینوا د کنفرانس لپاره (۲۰۱۸ کال د نوامبر ۲۷ او ۲۸) د دریځ په چمتو شوې مقاله کې د افغان او نړیوالې مدني ټولنې د سازمانونو له خوا مهم وړاندې شوي نظریات او وړاندیزونه را لنډوي. د بیا کتل شوو مقالو د نوملړ لپاره دغه ضمیمه وګورئ. دغه ترکیبي مقاله د بریتانیې او آیرلند سازمانونو د افغانستان ګروپ (BAAG) له خوا برابره شوې ده.

۲. متن

د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس د افغانستان او ملګرو ملتونو په کوربه توب د وزیرانو په کچه یو نړیوال کنفرانس و. په دې کنفرانس کې د ۶۵ هیوادونو او ۳۵ نړیوالو سازمانونو پلاوو، د رسنیو په ګډون د خصوصي سکټور او مدني ټولنې استازو ګډون درلود. د جینوا په کنفرانس کې د ملي وحدت حکومت د افغانستان په اړه د براسلز له کنفرانس(۲۰۱۶) راهیسې د اصلاحاتو د پلې کیدو په برخه کې شوي پرمختګونه را لنډ کړل. د کنفرانس د څنډې د یو لړ ناستو او مجلسونو په ترځ کی په لومړې سر کې د ځنډیدو پر ننګونو بحث وشو. سر بیره پر دې، د افغان مدني ټولنې له خوا یو ګډ بیان د کنفرانس ټول پلاوي ته وړاندې شو.

د افغانستان د بدلون لسیزې په مینځ کې (۲۰۱۵- ۲۰۲۴)، د لندن ( ۲۰۱۲) او براسلز(۲۰۱۶) له کنفرانسونو وروسته د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس د جینوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې پر چوکاټ له هوکړې سره جوړ شو. د دوه اړخیزې حساب ورکونې دغه چوکاټ د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ له لارې پر ځان ویسا (SMART SMAF) په ګډون چې په ۲۰۱۶ کال کې پرې هوکړه وشوه، د پالیسی د مخکینیو چوکاټونو پر بنسټ د ۲۰۱۹ او ۲۰۲۰ کلونو لپاره د یو لړ لنډ مهالو پایلو د وړاندې کولو په موخه جوړ شوی دی. د جینوا د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ د ملي پالیسی د هر اړخیز چوکاټ، د ۲۰۱۶ کال د افغانستان د سولې او ملي پراختیا چوکاټ (ANPDF) او د ملي لومړیتوب له ۱۰ پروګرامونو سره مطابقت لري.

۳. مشورې

د جینوا د کنفرانس د برخې په توګه، د افغان مدني ټولنې لس کسیز پلاوي ته ( ۵ نارینه او ۵ میرمني) د نوامبر په ۲۷ او ۲۸ نیټه د کنفرانس په بهیر او د څنډ په ناستو کې د ګډون لپاره بلنه ورکړل شوه. د جینوا په کنفرانس کې د دوی د ټاکنې او ګډون مدیریت د مدني ټولنې د کاري کمیټې له لورې وشو. سر بیره پر دې، په افغانستان کې د نړیوالې او ملي مدني ټولنې فعال سازمانه د نوامبر په ۲۶ نیټه د تیاري په موخه د یوې ورځې لپاره سره راټول شول. د جینوا په کنفرانس کې د مدني ټولنې پر ګډون د لا زیاتې رڼا اچولو په موخه د دریځ دغه مقاله چې په دې سند کې را لنډه شوې ده چمتو شوه. د افغان مدني ټولنې ګډ بیان چې د مخکینې ورځې د موادو پر بنسټ جوړ شوی و د کنفرانس په دوهمه ورځ ( د ۲۰۱۸ د نوامبر په ۲۸) وړاندې شو.

سر بیره پر دې، د دریځ دا مقاله چې په دې سند کې ترکیب شوې ده په خپله د مشورو او د افغانستان په لر او بر کې د تر سره شوې څیړنې پر بنسټ جوړه شوې وه. په ملي او سیمه ایزه کچه د مدني ټولنې د یو شمیر سازمانونو له خوا د یو لړ بیلا بیلو موضوعاتو په اړه مشورې هم وړاندې شوې.

۴. مقالې

په ۲۰۱۶ کې د براسلز له کنفرانس راهیسې پرمختګونه

مدني ټولنې د براسلز له کنفرانس راهیسې د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې او مدني ټولنې له خوا د تر لاسه شوو پرمختګونو ستاینه وکړه. په داسې حال کې چې یو شمیر ستونزې لا پر ځای دي او ځینې یې ژورې شوي دي، د پام وړ لاس ته راوړنې هم شته. په دې مقاله کې د یادو لاسته راوړنو بیلګې دا دي:

- د ولسمشر اشرف غني له خوا د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ په میاشت کې طالبانو ته له کوم شرط پرته د سولې د خبرو وړاندیز؛
- د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پریکړه لیک د عمل ملي پلان (NAP 1325) ته د افغان حکومت د ژمنتیا په لړ کې د وزیرانو د فوکل پاینټونو ټاکل، د سیمه ایزو فوکل پاینټونو د ورکشاپونو جوړول او د دوه کلنیو ( ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷) رپوټو چمتو کول؛
- د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون (EVAW ) د ښه پلي کیدو په موخه د حکومت اقدامات؛
- له فساد سره د مبارزې د ملي ستراتیژۍ(۲۰۱۷)، په (۲۰۱۶) SMART SMAF کې له فساد سره د مبارزې په اړه د اړوندو ژمنو لپاره د افغانستان د حکومت تیاري او په ۲۰۱۷ کې د پرانیستي حکومت په همکارۍ کې ګډون؛
- د کانونو د قانون(۲۰۱۴) د رواني بیاکتنې او د دې سکټور اړوند فساد سره د مبارزې په برخه کې د حکومتولۍ د اصلاحاتو په ګډون د کان کیندنې د سکټور په برخه کې د نړیوالو غوره تجربو له تمې څخه د زیات کار لپاره د افغانستان د حکومت هڅې؛
- د افغانستان حکومت له خوا د خوندي ښوونځیو د اعلامیې د قسمي، خو مخ په زیاتیدو پلي کول؛ او
- د افغانستان د حکومت له خوا د کډوالو د هر اړخیز غبرګون د چوکاټ (CRRF) څخه ملاتړ او پلي کول.

سوله او امن

د جینوا د کنفرانس د دریځ د ټولو مقالو په ترڅ کې په افغانستان کې د مخ په خرابیدو امنیت پخلی وشو. او س مهال د هیواد له ۴۵ سلنې څخه زیاته خاوره د طالبانو تر ولکې او یا اغیزې لاندې ده.[27] د هیواد په شمال او ختیځ کې د په اصطلاح اسلامي دولت په کلکه خپل ځان ثابت کړی دی. د جرمونو کچه لا هم لوړه ده، او د یوناما د پورټ له مخې یواځې د ۲۰۱۸ کال په ۹ وروستیو میاشتو کې ملکي مرګ ژوبله ۸۰۵۰ ( ۵۲۵۲ ژوبل او ۲۷۹۸ شهیدان) تنه وه.[28] دا د تیر کال د همدې وخت په پرتله ۵ سلنه زیاتوالی ښیي. سر بیره پر دې، د افغان امنیتي ځواکونو (ANSF) په لیکو کې د مرګ ژوبلې زړه بوږنوونکې ارقام هم لوړ دي. له دې زیانونو څخه مخنیوی، او په حقیقت کې د جګړې د پای ته رسولو لپاره د سولې د یوې هوکړې تضمین ستر ارزښت لري.

په ۲۰۱۸ کال کې د سولې د خبرو بیا پیل له ګډو غبرګونونو سره مل وي. د مزاکراتو له لارې په افغانستان کې د یوې سولې تأمین د مدني ټولنې منل شوې موخه ده. او، په دې برخه کې طالبانو ته د ولسمشر غني د ۲۰۱۸ کال د فبرورۍ د میاشتې وړاندیز یو خورا مهم لومړنی ګام وګڼل شو. لا هم د افغان مدني ټولنې په وړاندې یو لړ سترې اندیښنې موجودې دي. لومړی، د سولې خبرې باید د تړلو درواز تر شا تر سره نه شي. دا خبرې باید رڼې، مسؤولانه او پراخ بنسټې اوسي. د مدني ټولنې د یو شمیر دریځ پاڼو پربنسټ، د سولې په خبرو کې د ښځو او قومي لږکیو ګډون خورا مهم دی.

دوهم، د ۲۰۰۲ کال راهیسې د خورا په سختۍ تر لاسه شوو لاس ته راوړنو په برخه کې هیڅ ډول امتیاز ورنه کړل شي. د سولې خبرو کې باید د افغانستان له اساسي قانون او د ښځو او قومي لږکیو د حقونو ساتنه وشي. د مدني ټولنې د دریځ یوه مقاله

---

[27] BAAG ۲۰۱۸
[28] یوناما، د ملکیانو د ساتنې رپوټ، ۲۰۱۸

دغه ټکي راڼدوي: "مونږ د سولي په خبرو کي د ښځو د ګډون ځخه د مخنیوي لپاره هیڅ ډول مخکیني شرطونه او یا هر هغه حل لاري چي له مخي به یې د ښځو حقونه زیانمن او یا محدود شي نه منو".[29]

په پای کي، افغان مدني ټولني " د امریکا پر متحدو ایالتونو غږ وکړ چي د سولي په خبرو کي افغانان پر طالبانو بدل نه کړي".[30] دا اړینه ده چي د سولي خبرې د افغانانو په مشرۍ تر سره شي. په داسي حال کي چي د امریکا متحد ایالتونه او په ټوله کي نړیواله ټولنه په افغانستان کي د سولي د تأمین لپاره ډیره لیوالتیا لري، دا مهمه ده چي د افغان حکومت او افغانانو په استازیتوب له طالبانو سره پر شرطونو هوکړه و نه شي. دا ډول یوه سوله چي په کي امتیازونه شامل وي افغانانو ته به د منلو نه وي، او هغه سوله چي د افغانانو مالکیت په کي تمثیل نه شي تلپاتي به نه وي.

د اتباعو حقونه او خوندیتوب

په ۲۰۱۸ کال کي د یوناما له خوا د ملکي مرګ ژوبلي د ځرک له معلومولو سره سم، د روغتیا په برخه کي د مدني ټولني فعالو نړیوالو سازمانونو په وینا نه یواځي د جګړي له امله د ټیپانو شمیر لوړ دی بلکي په مساوي ډول نا امني هم زیاته شوې ده (د ډله ایزو مرګ ژوبلو د بریدونو له مخي).[31] دې پیښنو ته په کتو سره، مدني ټولني د جګړې پر ټولو اړخونو غږ وکړ لکه څنګه چي په نړیوالو بشري قوانینو کي روښانه شوی د ملکیانو، ملکي روغتونونو او د ټیپانو او طبي وسایلو د لیږد رالیږد ساتنه وکړي.

د ښځو حقونه لا هم مدني ټولني لپاره یوه مهمه موضوع ده. د سولي په خبرو کي د ښځو د ګډون د غوښتني تر څنګ، چي وړاندې یې یادونه وشوه، د ښځو سیاسي ګډون او د هغوی ټولنیز او حقوقي ملاتړ یوه خورا مهمه اندیښنه ده. د مشرتابه په مقامونو او حکومتي دندو کي د ښځو استازیتوب له ۳۰ سلنې ټیټ دی.[32] په لاملونو کي یې د ښځو د ګډون لپاره د سیاسي ملاتړ نه شتون، د میرمنو لپاره د ښوونیزو او روزنیزو فرصتونو نشتوالی، د ښځو لپاره ناوړه محدودونکي لارې چارې، شامل دي. پر دې محدودیتونو د لاس بري په موخه باید لا ډیر اقدامات وشي. د ۱۳۲۵ د عمل د ملي پلان د ښه پلي کیدو په موخه د حکومت د هڅو په ګډون( د وزیرانو د فوکل پاینټونو د ټاکلو، د سیمه ایزو فوکل پاینټونو د ورکشاپ جوړول، او د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو د کلنیو رپوټونو چمتو کول) ، د براسلز له کنفرانس راهیسي اخیستل شوي مثبت ګامونه باید یادداشت شي. لا هم د نوموړي پلان ښه پلي کیدو، سیمه ایز کیدو او څارني ته اړتیا ده.

د ښځو د ملاتړ په اړه دري مرکزي موضوعګاني پیدا کیږي. لومړی، د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د مدني ټولني یوه جدي اندیښنه ده. د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منعي د قانون د ښه پلي کیدو په موخه د افغان حکومت له خوا اخیستل شوي ګامونه د ستایلو دي. دا هڅي باید پراخي شي. د دې قانون د ښه پلي کیدو او څارني لپاره د اقداماتو تر سره کول اړین دي. په همدې توګه، د افغانستان د میرمنو او نارینه وو په مینځ کي د دې قانون په اړه د پوهاوي زیاتول د دې قانون د بریالیتوب لپاره خورا اړین دی.

دوهم، د ښځو لپاره د خوندي کورونو موضوع هم خورا مهمه وه. په داسي حال کي چي د افغانستان د ټولني په زیاترو برخو کي د خوندي کورونو شتون یوه بحث پاروونکي موضوع ده، د مدني ټولني یوه سازمان په دې برخه کي له " پټوالي ځخه عادي حالت ته" د بدلون غوښتنه وکړه.[33] دا و منل شوه چي دا ډول سرپناوې نیمګړتیاوې لري، د دریځ دا رپوټ دا را په یادوي چي په افغانستان کي د ښځو دا خوندي کورونه د هیواد په لر او بر کي سلګونو میرمنو او ماشومانو ته خوندیتوب او سمدستي ملاتړ وړاندې کوي".[34] د نورو ټکو تر څنګ، مدني ټولني په هغو سیمو کي چي خدمتونه کم دي ( د کندهار په ګډون، چي هلته هیڅ خوندي کور نه شته) د خوندي کورونو د جوړولو؛ په ورته وخت کي د افغانستان د حکومت له خوا دې مرکزونو ته د دوامداره بودیجي د ورکړې تر څنګ د حکومت له اغیزې ځخه د دې مرکزونو د آزاده پاتې کیدو؛ د دې کورونو د ارزښت په اړه او دا چي د دې کورونو فعالیتونه له اسلامي اصولو سره سم دي د عامه پوهاوي د لوړولو، او د دې کورونو اوسیدوونکو ته د اړتیا وړ روزونو دوړاندې کولو لپاره د دې کورونو له ظرفیت لوړولو سره د مرستو وړاندیز وکړ.

په۲۰۱۶ کال کي، د یو اټکل له مخي ۲/۲ میلیونه ماشومان چي عمرونه یې د ۸ او ۱۴ کلونو په مینځ کي دي په افغانستان کي په کار بوخت دي.[35] او د ماشومان کار مخ په لوړه دی. د ماشومانو د کار د دې ودې تر شا دوه هڅوونکي جګړه او بیوزلي دواړه دي. د بیوزلۍ په پایله کي کورنۍ د خپلو ماشومانو پر تعلیم اوږد مهاله پانګونه د لنډ مهالو اړتیاوو د پوره کولو قرباني کوي په دې ډول کورنۍ د سمدستي اړتیاوو د پوره کولو لپاره پر خپلو ماشومانو کار کوي. د جګړې په پایله کي د شک، ټیټ کیفیت او

۲۹ د افغان میرمنو شبکه (AWN)، ۲۰۱۸

۳۰ د مدني ټولنې ګډه کاري کمیټه، ۶:۲۰۱۸.

۳۱ ایمرجنسي ، ۲۰۱۸

۳۲ د افغان میرمنو شبکه (AWN)، ۲۰۱۸

۳۳ د افغان میرمنو شبکه (AWN)، ۲۰۱۸

۳۴ وړاندې یې یادونه شوې ده:۱

۳۵ APPRO ، ۲۰۱۸

ښوونځیو ته د نه لاسرسي  او په وسله والو نښتو کې د ښوونځیو د په نښه کولو له امله د ښوونځي د پرېښودو کچه لوړه شوې ده. ناوړه تولنیز، فزیکي او رواني روغتیا د ماشومانو د کار منفي اغیزې دي له همدې امله مدني ټولنې  پر افغان حکومت غږ وکړ څو د شاقه کارونو په وړاندې د ماشومانو د ملاتړ په موخه دې ښې پالیسۍ چمتو څو د ماشومانو ګومارونکو ته د سزا ورکړه تضمین کړي. د کار په چاپېریال کې باید د کارګرو ماشومانو له حقونو هم ساتنه وشي، په دې برخه کې باید افغان حکومت له ګومارونکو او د ماشومانو له کورنیو سره له نږدې کار وکړي څو د کار له قانوني عمر وړاندې د کارګرو ماشومانو مناسب خوندیتوب تضمین شي. د قانون څخه ملاتړ به د ماشومانو پر کار د لا ډېرو څېړونو او څارنو غوښتنه وکړي. همدار راز تمه کیږي چې له یتیم خانو سره د افغان حکومت مرستې ښې شي څو ماشومانو ته زده کړې برابرې او دا تضمین کړي چې د ښوونځي چاپېریال د زده کوونکو لپاره خوندي دی.

په ۲۰۰۵ کال کې، ۱۰٫۸ سلنه افغانان له سخت او یا ډېر سخت معلولیت څخه ځوریدل.[36] له ۲۰۰۵ کال راهیسې د ملکي مرګ ژوبلو د لوړې کچې په ګډون د رواني جګړې له امله ډېر زیات شمیر افغانان له معلولیت څخه ځوریږي. له معلولینو څخه د ملاتړ د تضمین په موخه مدني ټولنه د موجودو ژمنو ښه کول او پراخول اړین بولي. په دې کې د افغان حکومت له خوا  د معلولیت لرونکو وګړو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو کنوانسیون ته منظم رپوټ ورکول شامل دي څو په دې توګه د دې حقونو د تأمین کچه وټاکل شي. سربیره پر دې، حکومت باید په بشري کړنو کې د معلولیت لرونکو وګړو د شاملولو ترون لاسلیک او ژمنه وکړي چې بشري مرستې پراخ بنسټه دي.

په افغانستان کې بېځایه کېدنه مخ په زیاتیدو ده. د مدني ټولنې یو نړیوال سازمان یو لړ ستونزو ته اشاره وکړه: " افغانستان په دې وروستیو کلونو کې د بیرته راستنیدني بې مخینه کچه یې تجربه کړې ده، چې له چټک داخلي بېځایه کېدو سره یو ځای یو ستر بشري ناورین یې رامینځ ته کړی دی".[37]  له ۲۰۱۲ کال نه تر ۲۰۱۷ پورې ۱٫۲ میلیون افغانان په هیواد کې د ننه بیځایه شوي دي.[38]  په ۲۰۱۸ کال کې یواځې، جګړې د هیواد له ۳۴ نه په ۳۲ ولایتونو کې ۲۵۰۰۰۰ کسان یې د خپلو مینو پرېښودو ته اړ کړي دي.[39] سر بیره پر دې، په ۲۰۱۸ کال د وچکالۍ له امله ۲۷۵۰۰۰ افغانان بیځایه شوي دي.[40] د داخلي بیځایه کېدو د لوړې کچې تر څنګ یو د پام وړ شمیر افغانان له پاکستان، ایران او نورو هیوادونو څخه بیرته افغانستان ته راستانه شوي دي. د ۲۰۱۲ کال نه د ۲۰۱۸ کال تر نیمایي پورې، له ۱٫۳میلیونو څخه زیات افغانان له پاکستان او ۴۴۵۰۰۰ له ایران څخه بیرته هیواد ته راستانه شوي دي.[41] په ۲۰۱۸ کال کې له پاکستان څخه راستنیدنه یواځې ۲۵۰۰۰ وه.[42]  خو له ایران څخه په ۲۰۱۸ کال کې د کابو ۷۰۰۰۰۰ افغانانو هیواد ته بیرته راستنیدل یو د پام وړ شمیر دی.[43]  په دې لوړ شمیر کې د راستنیدنې اصلي  لاملونه په ایران کې اقتصادي رکود، د اړوندو پیسو د ارزښت لویدل او د ایراني چارواکو له خوا ګواښونه وه.[44]

د کډوالو د د راستنیدو د هڅونې په موخه د افغان حکومت له خوا کارول شوې جبري کړنلارې د مدني ټولنې نړیوالو سازمانونو ته د جدي اندیښنې وړ ده، چې له دې کبله په ایران کې نیونې او ځورونې دوام لري. په پاکستان کې، منظمه  توګه شوکول (اخاذي)، خپلسري نیونې او توقیفول، د کډوالو پر کورونو د پولیس یرغل، د کورونو ورانول او د کډوالو د ښوونځیو تړل عادي خبرې دي.  په "خپله خوښه" راستنیدو ته د افغانانو د اړ کولو په موخه نوموړي تخنیکونه کارول کیږي.

له بلې خوا، اروپایي ټولنې، خپلو غړو هیوادونو ته د کډوالو او پناه غوښتونکو د بیرته ستنولو بهیرآسانه کړی دی؛ خپلې مرستې پر افغان حکومت د فشار د آلې په توګه کاروي څو حکومت اړ کړي چې یو زیات شمیر راستنیدونکې پرته له دې چې د هغوی د جذب او ملاتړ لپاره کافي ظرفیت ولري، ومني. دا د دې تر څنګ چې سختو شرایطو ته بیرته د افغانانو د ورستنولو لپاره د غړو هیوادونو یوه مخ په زیاتیدو لیوالتیا څرګندوي، په ژوره توګه د پوښتنې وړ او ښايي د کډوالو د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسیون څخه سرغړونه وي. همدا راز داسې شواهد موجود دي چې انګلستان، ناروې او د اروپایي ټولنې نور غړي هیوادونه د کم عمره کډوالو د قصدي ایستلو لپاره بوروکراتیکې لارې کاروي. د مدني ټولنې نړیوال سازمانونه په ځانګړې ډول د تاوتریخوالي او زیانمننې هغه کچې ته په پام سره چې راستانه شوي به افغانستان ته په رسیدو به ورسره مخ کیږي، د دې ډول پوښتنې وړ کړنلارو له کارولوسره په کلکه مخالف دي.

۳۶ د افغانستان حکومت، د افغانستان د معلولیت ملي سروې، ۲۰۰۵

BAAG, 2018b: 1۳۷

NRC, 2018۳۸

ADSP, 2018 ۳۹

ARC, 2018.۴۰

NRC, 2018۴۱

BAAG, 2018b۴۲

۴۳ وړاندې یې یادونه شوې ده.

ADSP, 2018۴۴

## بیځایه کیدل او ادغام

له بیځایه کیدو وروسته، د خلکو اړتیاوې زیاتیږي. د دریځ یوه مقاله داسې تفصیل ورکوي: " په افغانستان کې بیځایه شوي وګړي ډېر بیوزلي دي، معیشتونو او تعلیم ته کمه لاسرسي لري، او د خوندیتوب له زیاتو خطرونو سره مخامخ دي نو ځکه دوی د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره مبارزه کوي".[45] د بیا راستنیدلو په اړه: د مدني ټولنې ارزونې ښییي چې ۲۰ سلنه راستانه شوي بشري مرستو او ۷۲ سلنه راستانه شوي په راستنیدو کې بیځایه کیږي.[46] دغه زیانمنوونکي راستنیدونکي په اغیزمن ډول په داخل کې بیځایه کیږي. په ورته وخت کې د همدې 'هم راستنو شوو او هم بیځایه شوو' وګړو زیاته برخه د عاید کومه دوامداره سرچینه نه لري، چې پرته له هغې "د خوړو نه خوندیتوب خورا جدي کیږي او ستونزو سره د مقابلې منفي میکانیزمونه له نه بې ثباته پورونو نه نیولي د ماشومانو تر کار پورې سره توپیر لري".[47]

په داسې حال کې چې د بیځایه کیدو اغیزې د پام وړ دي، افغان او نړیواله مدني ټولنه د مخ په ودې بشري ناورین په وړاندې د زیات اغیزمن غبرګون لپاره فرصتونه ویني. دا پر سیمه ایزو او نړیوالو نوښتنو د پانګونې تر څنګ، د ملي پالیسۍ خورا پیاوړو بهیرونو ته اړتیا لري. د ملي پالیسۍ د چاپیریال د تازه دمې کولو لپاره یو مهم ګام به د بیځایه کیدو او راستنیدو د اجرائیه کمیټې (DiRec) د کار د روڼوالي، حساب ورکونې او مشارکتي کړنلارو تضمین وي. سر بیره پر دې، د IDP د ملي پالیسۍ د پلي کولو لپاره چې له ۲۰۰۴ کال راهیسې د مسودې په بڼه موجوده ده، او لا نه ده پلي شوې، دوامدارو هڅو ته اړتیا ده. په داسې حال کې چې مدني ټولنې د عریضو( درخواستونو) د سیستم د بیا کتنې په برخه کې د افغان حکومت هڅې ستایي ( چې له مخې به یې د مرستو ویش مستقیم شي)، په سیمه ایزه کچه د دې بدلونونو د د اغیزو د څرګندیدلو لپاره لا ډېر کار ته اړتیا ده. په پای کې، د بیځایه شوو وګړو لپاره د دې بهیر یوې بیا کتنې ته اړتیا ده څو د کډوالو او راستنیدوونکو له ریاست سره خپل شکایتونه ثبت کړي. دا مهال، د ثبت بهیر یو بوروکراتیک او ګران بیه بهیر دی او زیاتره بیځایه شوي مرستو ته لاسرسي نه شي درلودلی.

په ۲۰۱۸ کال کې، د افغانستان حکومت د کډوالو د هر اړخیز غبرګون په چوکاټ (CRRF) کې د ګډون او د هغه د لاربښوونې هوکړه وکړه. دغه خبر د نړیوالې مدني ټولنې له هر کلي سره مخ شو. دغه چوکاټ یو داسې جوړښت دی چې له مخې یې بیځایه کیدو پورې اړوندو ستونزو په وړاندې د غبرګون بشپړ او پیش بیني شوي پلان جوړیږي چې دا به ښایي په افغانستان کې پر بشري غبرګونونو مثبتې اغیزې ولري. لا هم د مدني ټولنې نړیوالو سازمانونو لپاره اندیښنې موجودې دي. لومړی، پر خپله خوښه راستنیدو د نوموړي چوکاټ ټینګار ستونزمن دی. د دریځ یوه مقاله کې داسې راغلي:" په هغو شرایطو کې چې د افغانانو لپاره په سیمه او په اروپا کې د پناه غوښتنې فرصتونه په دوامداره توګه د له مینځه تللو په حال کې دي، او له دې سره سره چې د امنیتي وضعیت خرابیدل په پراخه کچه تأیید شوی، دا ډول یو ټینګار بیځایه دی او باید په عام ډول همداسې تأیید شي".[48] لکه چې وړاندې پرې بحث وشو، په زیاترو حالاتو کې " په خپله خوښه" راستنیدنه په بشپړه توګه په خپله خوښه یا له جبر څخه خلاصه نه ده. دا باید د دې چوکاټ په پلي کیدو کې روښانه، شامل او منفي اغیزې یې کمې شي.

دوهم، د افغانستان په جګړه ځپلې چاپیریال کې د CRRF د پلي کیدو د څرنګوالي د ټاکلو لپاره احتیاط په کار دی ( لکه څرنګه چې له هغو ځانګړو سیمو سره چې د کډوالو – کوربه دي مخالفت لري). کومه لاربښوونه موجوده نه ده او پلي کیدل به یې د بشري مرستو پر پلان جوړونه او لیږد نا معلومې اغیزې پریږدي. دریم، CRRF ته د یوې وسیلې په توګه د افغان کډوالو د سیمه ایزو حل لارو د ستراتیژي (SSAR) کارولو ته ارادې یو څه د اندیښنې وړ دي. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۱ کال کې د SSAR رامینځ ته کیدل یو مثبت ګام و، په ټوله کې په دې میکانیزم کې د روڼتیا نشوالي او محدود مشورتي ډګر هغه اصول یې نه دي رامینځ ته کړي چې په CRRF کې شامل وو.

## حکومتولي او فساد

مدني ټولنه د فساد لوړه کچه د هیواد او خلکو د پرمختګ په وړاندې یو له مهمو کمزوري کوونکو فکټورونو ګڼي. په داسې حال کې چې مدني ټولنه د حکومت وروستۍ هڅې تأییدوي، د دې ستونزې سره د مقابلې لپاره باید مهم ګامونه پورته شي. یعنې، د فساد ضد ژمنې په SMART SMAF ( ۲۰۱۶) ، له فساد سره د مبارزې لپاره د افغانستان د ملي ستراتیژۍ په تصویب (او فساد سره د مبارزې د ځانګړې دارالانشاء را مینځ ته کول) او د پرانیستې حکومت په همکارۍ کې د هیواد مشارکت (۲۰۱۷) کې شوي دي.

[45] ADSP, 2018: 2
[46] BAAG, 2018b
[47]
[48] ADSP, 2018: 2.

د دې پرمختګ سره، پر فساد د بر لاسي لپاره لا ډېر کار ته اړتیا ده. په دې برخه کې د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې، مدني ټولنې او څو ملیتي شرکتونو له خوا همغږی کار خورا مهم دی. په داسې حال کې چې د مالیې د راټولو د معاملو د لګښتونو د راکمولو او بنسټیزو خدمتونو د لیږد لپاره اداري اصلاحات پر لاره دي، افغان حکومت باید خپلې کړې ژمنې او پالیسۍ په پیاوړې ارادې عملي کړي. سر بیره پر دې، حکومت باید په افغانستان کې د خصوصي سکټور د تنظیم او د مالیې د ورکړې د منلو د اجرا لپاره کوټلي ګامونه واخلي. په ورته وخت کې، د نړیوالې ټولنې، مدني ټولنې او څو ملیتي شرکتونو له خوا د خپلو داخلي بهیرونو او له حکومتي چاروکو سره په اړیکو کې د فساد ضد یوه همغږه هڅه باید تر سره شي. بسپنه ورکوونکي باید د خپلو مالي مرستو د کاروني څرنګوالی په ځیرکتیا سره وڅاري چې په سمه لاره لګیږي یا که په نا سمه. دوی نه شي کولی چې د پخوا په څیر بسپنه ورکړي، او بیا هم د بیلا بیلو پایلو تمه کوي. په پای کې، د مدني ټولنې فعالین باید په خپله دوه ګونی رول ولوبوي. چې په دې کې د حکومت او بسپنه ورکوونکو د لګښتونو آزاد څار او تر څنګ یې د فساد په اړه د عامو خلکو د پوهاوي د لوړولو او له فساد سره د مبارزې د کړنلارو د هڅونې دروند مسؤولیت شامل دی.

د دریځ په یوه مقاله کې د پوهنې د هڅونې یو نوی حل پر فساد د برلاسي د یوې کړنلارې په توګه مطرح شوی و. دا وړاندې استدلال کوي:" له حقوقي او مذهبي نورمونو سره د فساد ضد زده کړو برابرول کولای شي په تدریجي ډول د فساد ضد ارزښتونو په اړه زده کوونکې پوه کړي"[49] د فساد ضد په موخو کې د پوهنې ښکیلول له دوه مهمو لارو شونی دی. له یوې خوا، د فساد ضد اصولو د شاملولو په موخه باید نصاب نوی شي، د بیا کتل شوي نصاب د کارولو لپاره ښوونکي باید بیا وروزل شي د زده کوونکو د پوهاوي د لوړاوي په موخه میندې او پلرونه هم باید ښکیل شي. له بل لوري، په دې اړه په ټولګي کې د زده کړې د ودې لپاره باید له نصاب څخه بهر نور فعالیتونه هم پیل او زیات خلک په کې ښکیل شي.

په دوهمه درجه کې د حکومتولۍ یوه مهمه اندیښنه چې د جینوا د کنفرانس په دریځ مقاله کې پرې بحث شوی د حکومت له خوا د مدني ټولنې د ښکیلولو لارې چارې دي. مخکینیو بحثونو ته په پام سره، په افغانستان کې د فساد مزمن ماهیت په دې معنی دی چې مدني ټولنه په کلکه محدوده ده او خپل د وخت یوه د پام وړ برخه د پراخې بډې او بوروکراسۍ په مدیریت کې تیروي. په ورته وخت کې د مدني ټولنې په مینځ کې یو عمومي احساس دا دی چې حکومتي چارواکي د دوی په کار کې لاسوهنه کوي. پر دې محدودیت د مدني ټولنې د فعالینو له خوا ټینګار شوی او له حکومتي سرچینو څخه د باوري معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره دا یوه ستونزه ګڼي. دا نه یواځې د حکومت د کړنو د څارنې پر مهال ستونزې تفسیروي ( ښایي دا د حکومت د چارواکو له خوا د کره معلوماتو د تر لاسه کولو د بهیر د ستونزمن کولو یو دلیل و اوسي)، همدا راز د ملي قوانینو د پلي کولو او د حکومت د پالیسیو او کړنلارو د تعقیبولو په برخه یوه کمزوري هم وي.

د مدني ټولنې له خوا د دولت ـ ټولنې د دې ستونزمنو اړیکو د په ښه کولو لپاره یو لړ وړاندیزونه شوي دي. په دې کې د افغان حکومت، نړیوالې ټولنې او مدني ټولنې تر مینځ د زیاتي همکارۍ اړتیا شامله ده ( د مدني ټولنې ملي سازمانونو ته د نړیوالو اوږد مهالو مالي مرستو په ګډون). سر بیره پر دې، له حکومت سره د یوې ښې اړیکې هیله هم په کې موجوده وه. دا ډول یوې اړیکې کې به د قوانینو د تسوید په برخه کې د مدني ټولنې سره د مشورې یو رسمي میکانیزم هم شامل وي، او پر یوې فعالي او پیاوړې مدني ټولنې د یو متمرکز NPP د رامینځ ته کیدو له لارې درک کیدای شي.

اقتصاد

په ۲۰۱۳ کال کې د اقتصادي رکود له یرغل راهیسې د افغان اقتصاد خپلې مبارزې ته دوام ورکوي. د مرکزي احصائیې د ادارې په وینا، ناوړه امنیتي وضعیت له کمزورې اقتصادي ودې سره په ګډه د بیوزلۍ او بیکارۍ د زیاتیدو لپاره لاره هواره کړې ده. تر ټولو وروستي معلومات ښیيي چې د ۲۰۱۲/ ۲۰۱۳ او ۲۰۱۶/۲۰۱۵ کلونو تر مینځ په ملي کچه بیکاري له ۲۵ سلنې تر ۴۰ سلنې پورې زیاته شوې ده.[50] په همدې موده کې د بیوزلۍ تر کرښې لاندې خلکو سلنه ۵۴ ته ورسیده، له ۳۸/۸ سلنې لوړ،[51] ۵ ملیونو هغه خلکو کې زیاتوالی ښیيي چې بیوزلي زغمي.

د کان کیندني سکټور ښایي د حکومت د عوایدو او اقتصادي ودې یوه ستره سرچینه وي. لکه څنګه چې پخپله ولسمشر غني و ویل چې دا کیدای شي د "سرچینو لعنت یا resource curse" یا د فراونی تناقض لامل شي.( هغه تناقض په ډاګه کوي چې د فراوانو طبیعي سرچینو درلودونکي هیوادونه (تیل او منرالونه) د لږو طبیعي سرچینو درلودونکو هیوادونو په پرتله کمې اقتصادي ودې، کمې ډموکراسۍ او ناوړه پراختیایي پایلو لورته ډېر تمایل لري.) افغان او نړیواله مدني ټولنه د استخراج په اړه یو شمیر احتیاطي موضوعګانې درک کړي دي. دا سکټور کیدای شي وده وهڅوي خو د دې تر څنګ جګړه او فساد هم هڅوي. په حقیقت کې، د دریځ یوې مقالې څرګنده کړه چې: " کانونه د طالبانو د تمویل دوهمه ستره سرچینه ده".[52] همدا مقاله بیا جزئیات

APPRO, 2018c: 1.۴۹

۵۰ د افغانستان حکومت، د ژوندانه د وضعیت سروې، ۲۰۱۷

۵۱ وړاندې یې یادونه شوې ده.

GW/IWA, 2018: 1۵۲

سپېړي او ليکي چې په داسې حال کې چې د اټکل له مخې افغان حکومت په کال کې ۳۶- ۴۰ ميليون ډالر عوايد د کان کيندنې له سکټور څخه تر لاسه کوي دي، خو په کال کې ۳۰۰ ميليون ډالر د غيرقانوني کان کيندنې له امله له لاسه ورکوي.[53]

له ۲۰۱۶ کال راهيسې د خورا غوره نړيوالو کړنلارو د شاملولو، د کانونو د اوسني قانون (۲۰۱۴) د يوې بياکتنې پيل او په دې سکټور کې د فساد ضد لا زياتو اقداماتو د پيلولو لپاره د ژمنو په ګډون د دې سکټور د ښه کيدو لپاره د افغان حکومت له خوا اخيستل شوي ګامونه وستايل شول. مدني ټولنې په موجود قانون کې د يو لړ ساتنو د زياتولو د اړتيا په ګډون يو شمير اندېښنې هم طرحه کړې: د تأديې او توليد د ارقامو خپرول؛ د ګټور مالکيت ( ګټور مالکيت د کورنۍ او نړيوالې سوداګرۍ يوه اصطلاح ده چې هغه چا ته کارول کيږي چې پرته له دې چې په ريکارډ کې د يو ملکيت د څښتن په توګه ثبت شوی وي له هغه ملکيت څخه ګټه تر لاسه کوي.) د يو ثبت جوړول؛ د مزايدې او د تړونونو د لاسليک پر مهال د روڼتيا زياتول. د دې ساتنو موخه د کانونو د کيندنې په سکټور کې د زياتې امانت دارۍ، حساب ورکونې او روڼتيا هڅول دي.

په روغتيا، پوهنه، کرهڼه او معيشتونو کې پراختيا

د ښه کيفيت درلودونکې او د لاسرسۍ وړ روغتيايي او پوهنيز خدمتونه، د خوړو خونديتوب او تلپاتې معيشتونه هغه ډېرين بستر دی چې د افغانانو سوکالۍ پرې پرته ده. په همدې برخو کې نيمګړتياوې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ليدل کيږي. په داسې حال کې چې مدني ټولنه د ټولو افغانانو له سوکالۍ ملاتړ کوي، خو ځانګړې پاملرنه پر هغو کسانو متمرکزوي چې په څنډه کې پاتې دي او زياتې اړتياوې لري، په دې کې د ميرمنو، ماشومانو، د جګړې له امله د ټپي شوو ملکيانو، معلوليت لرونکو او بېځايه شوو وګړو اړتياوې شاملې دي خو همدې پورې محدودې نه دي.

**روغتيا:** په ۲۰۱۸ کال کې، ۱/۵ ميليونه هغه افغانان چې د هيواد په هغو سيمو کې ميشت دي چې کم خدمتونه ورته وړاندې کيږي د روحي صدمو او لومړنيو بيړنيو روغتيايي پاملرنو ته اړتيا لري.[54] مدني ټولنه په افغانستان کې روحي صدمو ته د پاملرنې د يو بشپړ او د لاسرسۍ وړ سيستم له رامينځته کيدو ملاتړ کوي. د دې د شونتيا لپاره، بايد وړيا او هر اړخيز خدمتونه وړاندې کړي. روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي د حق د پوره کولو لپاره، مدني ټولنه د افغان حکومت او نړيوالې ټولنې له خوا دې سکټور ته د زياتې بوديجې د ځانګړي کولو په لټه کې ده. سر بيره پر دې، د پاملرنې د دا ډول يو سيستم وړاندې کول به يواځې د روغتيايي برخې د راتلونکو مسلکي کدرونو پر روزنه د پانګونې له لارې ممکن وي. په ځانګړي ډول د روغتيايي پاملرنو د کارکوونکو په توګه د ښځو پر روزنه دې تمرکز ډېر شي څو هغوی د پراخو خدمتونو د وړاندې کولو جوګه شي.

معلوليت لرونکي وګړي د معلوليت نه لروونکو وګړو څخه د زيات فزيکي او روحي بيا رغونې او روغتيا پورې اړوندو خدمتونو ته اړتيا لري. خو، د افغانستان په شرايطو کې نه يواځې د بيا رغونې خدمتونو ارزښت ټيټ دی، بلکې معلوليت لروونکي وګړي اکثراً په هغه ځايونو کې چې دغه خدمتونه موجود دي ورته کمه لاسرسي لري. له همدې امله د بيارغونې د برخې روغتيايي کارکوونکي ډېر کم، د نا امنۍ له امله ډېر شمير روغتيايي مرکزونه غير فعال پاتې دي، او د روغتيايي پاملرنو د کم تمويل له امله د بيا رغونې خدمتونه ډېر محدود دي. د بيا رغونې د خدمتونو د وړاندې کولو او د بيا رغونې د روغتيايي پاملرنو په برخه کې له ځانګړي تخصص سره د مسلکي کسانو د روزنې لپاره بوديجه اړينه ده که چيرې دا ننګونې له مينځه يوسې.

رواني روغتيايي خدمتونه په افغانستان کې په نشت حساب دي. د معلوليت لروونکو وګړو په څير، د رواني روغتيا ستونزې هم د بېځايه شوو او بيرته راستنيدونکو لپاره، په ځانګړي توګه د ماشومانو لپاره د پام وړ دي. خپګان، د رواني صدمو تشوشات (PTSD)، او د ځان وژلو فکرونه د بېځايه کيدو ځپلو افغانانو په مينځ کې خورا عام دي. د رواني روغتيا پر محدود آسانتياوو او روزل شوو مسلکي کارکوونکو سر بيره د کورنيو د غړو له خوا نوم بدي کول او پريښودل سترې ننګونې دي چې بايد حل شي.

**پوهنه:** په افغانستان کې ماشومان د جګړې فشارونه زغمي. په داسې حال کې چې له ۲۰۰۱ کال راهيسې يو زيات شمير ماشومان ښوونځي ته ځي، خو دا ستونزه لا هم موجوده ده. اوس مهال، ۳/۷ ميليونه ماشومان (۲/۲ نجونو او ۱/۵ ميليون هلکان) ښوونځي ته نه ځي، له ۲۰۰۲ راهيسې د لومړي ځل لپاره، له ښوونځي څخه د بهر پاتو ماشومانو شمير مخ په زياتيدو دی.[55] يو شمير هڅوونکي فکتورونه د تعليم په دې ډول ټيټيدو کې برخه لري، او پر ښوونځيو، ښوونکو او زده کوونکو بريدونه، چې په ۲۰۱۸ کې په بې سارې ډول زيات شوي دي په دې برخه کې د پام وړ اغيزې لري. د هيواد په لر او بر کې د غيرې دولتي وسله والو ډلو د کنټرول په زياتيدو سره، پر پوهنه بريدونه مخ په زياتيدو دي؛ چې عاملين يې غير دولتي وسله والې ډلې او افغان ملي امنيتي ځواکونه دي. موجود معلومات ښيي چې هغه ښوونځي چې د ټاکنيزو يا پوځي اړوندو موخو لپاره کارول کيږي په ځانګړې ډول د بريدونو پر وړاندې خورا حساس دي. په يوه مثبت يادښت کې بيا په ۲۰۱۵ کال کې د ډيرو خوندي

۵۳ وړاندې يې يادونه شوې ده.

UNOCHA۵۴ ، د بشري غبرګون پلان

GCPEA۵۵ ، ۲۰۱۸

ښوونځیو د اعلامیې له تصویب راهیسې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د امنیتي موخو لپاره د ښوونځیو په کارونه کې کال په کال کمښت راغلی دی. پر پوهنه د بریدونو د راکمولو لپاره، مدني ټولنې پر افغان حکومت او غیرې دولتي وسله والو ډلو غږ کوي څو له پوهنې پرته د نورو موخو لپاره د ښوونځیو له کارونې ډډه وکړي، څو د وسله والو نښتو په ترڅ کې پوهنې ته لاسرسي تأمین، او د بریدونو څخه څارنه او د عاملانو تعقیب  پیاوړی شي.

د امنیتي ننګونو تر څنګ چې وړاندې پرې تم شولو، هغه ماشومان چې په دې وروستیو کې افغانستان ته راستانه شوي دي تعلیم ته د لاسرسي پر مهال له ځانګړو ستونزو سره مخ دي. یوه مهمه ستونزه چې د مدني ټولنې د نړیوالو سازمانونو له خوا په نښه شوي ده د اړوندو اسنادو د نه لرلو له امله ښوونځي کې د داخلیدو پر مهال ماشومان له ستونزو سره مخ کیږي. د تعلیمي موخو لپاره د ماشومانو د ثبت سره د مرستې لپاره باید کوټلي ګامونه واخیستل شي.

په افغانستان کې په ځانګړې ډول معلولیت لرونکي ماشومان ډیر سخت ځوریږي. زیاتره دغه ماشومان د جګړې او ټولنیزو او فزیکي خنډونو له امله پوهنې ته لاسرسی نه لري. د یو نړیوال مدني سازمان په وینا، " افغانستان متخصصو ښوونکو، د معلولیت لرونکو نجونو په ګډون ښوونځي ته د ټولو ماشومانو د تللو د ارزښت په اړه پوهاوي، او پر پراخ بنسټه پوهنې د تمرکز په موخه پوره تمویل ته اړتیا لري"[56]

**کرهڼه:** ۸۰ سلنه افغانان د خوړو او عاید د لومړنۍ سرچینې په توګه پر کرهڼه تکیه لري.[57] سره له دې، جګړه او اقلیمي بدلون په افغانستان کې د کرهڼیز سیسټم له مینځه وړونکي دي. په ۲۰۱۸ کال کې، کابو ۹/۸ میلیون خلکو ( د افغانستان د کلیوالو سیمو د وګړو ۴۳/۶ سلنه) د خوړ نه خوندیتوب یې تجربه کړی دی، او۲/۶ میلیون افغانان د خوړو د نه خوندیتوب له بیړنۍ کچې سره مخ دي.[58] دې وضعیت له پراخې خوار ځواکۍ، ناوړه روغتیایي اغیزو او په هیواد کې د درنې داخلي بیځایه کیدنې سره مرسته کړې ده.

د خوړو د نه خوندیتوب سره د مبارزې لپاره یوه آزمايښتي کړنلاره د جینوا د کنفرانس د دریځ په یوه مقاله کې طرح شوې وه. نوموړې مقاله دا استدلال وړاندې کوي چې، "جوماتونه د خوړو د نه خوندیتوب په اړه د پوهاوي د یو منظم سیسټم او له شتمنو خلکو څخه اړمندانو ته د بسپنې د راټولو څخه د ملاتړ، او په خپلو ټولنو کې د خوراکي مرستو لپاره د تر ټولو زیاتو اړو کورنیو د پیژندلو له لارې د خوړو د نه خوندیتوب د په نښه کولو په برخه کې یو مهم رول لوبولی شي، او د خوړو په ویش کې حساب ورکونه او روڼتیا تضمینمولی شي".[59] دا وړاندیز د هغه سیسټمونو پر بنسټ دی چې له وړاندې نه د جوماتونو له لارې کارول شوي دي، لکه: د زکات ویش یا فرضي صدقه، چې د جوماتونو له خوا راټولیږی او پر بیوزلو ویشل کیږي؛ او د خوړو ویش چې د دیني جشنونو لکه د روژې په پای کې د کوچني اختر د لمانځلو تر څنګ  تر سره کیږي.

وچکالي، چې اوس مهال د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه په ۲۰ کې تجربه کیږي، یو له طبیعي خطرونو څخه دی چې د خوړو نه خوندیتوب هڅوي. په اوروښتونو کې د ۷۰ سلنې کمښت له امله د خوړو تولید زیانمن شوی او د کروندګرو شتمني یې کمه کړې ده.[60] وچکالۍ آن د حاصلاتو د موجودې ټیټې کچې د ودې مخه هم نیولې ده.  له ۲۰۱۷ کال نه تر ۲۰۱۸ کال پورې د هیواد په کچه د غنمو په تولید کې د کسر زیاتوالی په ترتیب سره له ۱/۵ تر ۲/۳ میلیون متریک ټنو ته رسیږي.  په ۲۰۱۸ کال کې د وچکالۍ  له امله ۱/۴ میلیونه خلک د خوړو د نه خوندیتوب له سخت حالت سره مخ دي.[61]

د مدني ټولنې د غړو له خوا د وچکالۍ او نورو طبیعي خطرونو د کمولو لپاره دوه اساسي حل لارې وړاندې شوې. دغه حل لارې د ناورین د خطر کمول (DRR) او د خوړونو بشپړ مدیریت (IWM) دی. په (DRR) کې د طبیعي خطرونو د اغیزو د کمولو په موخه د عمل او ستراتیژیو د پیژندلو لپاره یو ټولن ـ بنسټه کړنلاره کارول کیږي. په دې کې " د ناورین په وړاندې د حساسو سیمو د پیژندلو او ځان ساتنې، د کرهنې د غوره سیسټمونو د معرفي کولو او د کورني عاید متنوع کولو په موخه له خلکو سره مرسته شامله ده څو په دې توګه د اقتصادي او چاپیریالي شاکونو په وړاندې مقاومت وکړي او د خپلو کورنیو پر راتلونکي پانګونه وکړي.[62] له بل لوري IWM  د تریسینګ یعنې پر مایلو ځمکو د پلوان جوړول، په ځمکه کې د سوریو جوړول او د بندونو جوړولو او د شنو نباتاتو د کارولو په ګډون یو شمیر تخنیکونه د باران د اوبو د ذخیره کولو لپاره معرفي کړي دي څو په دې توګه د اوبو چټک جریان کم کړي. دغه تخنیکونه د اوبو او د خاورې د ښه کولو اغیزې له ځانه سره لري. او " او د ټولنې په کچه  په تلپاتې کرهڼه، مالدارۍ او د خوړو په خوندیتوب کې  د تلپاتې مثبتو اغیزو لامل کیږي، او په بې

HI, 2018: 3۵۶

ARC, 2018.۵۷

ACF, 2018۵۸

APPRO, 2018d: 2۵۹

ARC, 2018۶۰

ACF, 2018۶۱

ARC, 2018: 3۶۲

